# دوه کتابونه

لنډې کیسې

لیکواله
صفیه حلیم

۲۰۱۴ م

د چاپ زيار- جعفر هاند
مومند خپرندویه ټولنه- جلال اباد

۱. پاک خلک

۲. دوه کتابونه

۳. ستن تار

۴. کوډې

۵. دیوداس

۶. تاجبرو ترور

۷. د وږمو ښار

۸. میراث خور

۹. ګیلې مانې

۱۰. کږه خوله

۱۱. انځورګره

۱۲. سوړ جنګ

۱۳. ډرایډ پلمز

۱۴. کورګی

۱۵. حلاله ډوډۍ

۱۶. پلار

۱۷. شنه لښته

۱۸. د غونډې نه وړاندې

۱۹. د چایو کڅوړه

۲۰. ملي ورځ

# پاک خلک

زما یادیږي چې د صبرو په زنه تور خال و او کله چې دا به سترېږ شوه نو خال به یې په ورغوي ومښلو. انا راته ویلي و چې د هغې سره په کوڅه کې لوبې کوه خو کورته یې مه څه. پلار مې سرکاري نوکري کوله او د نوښار نه یې پېښور ته بدل کړی و. زمونږ کورد پېښورد زاړه ښار په یوې وړې کوڅې کې و.

زه به د شپړو یا اوو کالو وم او یو وړوکې ورور مې و چې هروختې د مور په ډډه سپور و او هر وختې به یې ژړل. هغه وخت راته ښار داسې ښکارېدو لکه د کلي هدیره چې هېڅوک به په کې نه و او یا کېدی شي ما پکې خلک نه لیدل.

پلارراته یو پړی راوړی و چې په دواړو سرونو یې د لرګي لاسي وو او د خپل کورمخې ته به مې په دې پړي لوبې کولې. لوبې څه وې خو د پړي نه اخوا دیخوا ټوپونه وهل و. دا لوبه "رسی ترپ" نومېده. په کلي کې به مې همدا لوبه کوله خو هلته رسی لوی لوی وي او دواړه سرونه به یې دوو جینکو نیولي و او نورو به ترې دانګل.

یوه ورځ مې په کوڅه کې په خپل پړي ټوپونه وهل چې دوه کورونه وراخوا په باری کې مې یوه ښځه ولیده، د ماشومې جینۍ ښځه...د هغې سترګې غټې او تورې وې او زما چې ورته پام شو نو د باری د تمبې شا ته پټه شوه.

زما انا به د کور لویه دروازه پرانیستې ساتله او د دې نه بهر جوړه شوې د زیربخن مرمرو په تخته ناسته وه. د ښار خلکو به دې تختو ته "تلۍ" ویل. د ځېنو کورونو تلۍ د سرو سیمنټو نه جوړې وې. د ورځې به د ښار دا ټولې کوڅې خوشې وی، کله نا کله یو سبزي وال به ورته پېښنه وکړه او په زوره زوره به یې چغې وهلې. سهار به یو مشکي خدای خبر له کومه ځایه د اوبو مشکونه راوړل او د کوڅې ځېنو کورونو ته به یې وړل. انا به مې د مخامخ ګاونډۍ سره په خبرو بوخته وه چې کړکۍ به یې هر وختې پرانیستې او ټول کارونه یې په ولاړې کول.

زما اوس هېر دي چې څه وخت هغه جینۍ چې ما یې ښځه په کړکۍ کې لیدلې وه، کوڅې ته راووتله. دا هم راته یاد نه دي چې د هغې نوم څه و، خو ما ورته صبرو نوم اخیستو. صبرو په کلي کې زما کلکه ملګرې وه او

ډېره مې یادېده. دې جینۍ لکه چې زما د ټوپونو غږ اورېدو او یا به یې کړکۍ د یو سوري نه راته کتل.هر وخت چې زه د کورنه به بهر راتلم نو دا به هم راغله او ما سره د "رسۍ ترپ " په لوبه اخته شوه.
په څو ورځو کې صبرو زما دومره پخه ملګرې شوه لکه چې د کلي صبرو وه. د انا په شان یوه ښځه د هغې د کور په کړکۍ کې ولاړه وه او مونږ ته به یې کتل.زما انا د هغوی په خبرو نه پوهېده خو ماته ګوډه هندکو به یې ورسره ویله. د صبرو او زما خپله ژبه وه او مونږ ته د خبرو دومره حاجت هم نه و.
یو وار به ما د پړي په سرلګیدلې د لرګي دستې ونیولې او دواړو به پړې په ګډه د "ترپ ترپ" ویلو سره ټوپونه ووهل. د چا پښه چې به د پړي سره وجګېده نو هغه به "وسوځېده" بیا به د بل کس وار و او هغې به د رسۍ دستې ونیولې. صبروله چل نه ورتلو، ما به پړی دومره ښه په هوا کې پورته کوو چې هغې به دا نشو کولی. دا به ډېر زر وسوځېده او زه به خوشاله وم،د غرمې د ډوډۍ په وخت به انا وویل، " راځه بچیه بس دی اوس لوبې ختمې کړه." زما زړه به نه و خو د انا نه وېرېدم نو پړی به مې د لاس نه تاو کړو او صبرو هم غلې خپل کور ته ولاړه.
زمونږ د کور په ښکته پوړ کې یوه حوض و چې په کې نل لګیدلی و. د دې نل نه به یخې او خوږې اوبه راتلې چې موربه مې ویل دا د باړې اوبه دي. ما به د لوبو هغه پړی د دروازې شا ته یو لوی میخ سره ځوړند کړو او انا به راته د نل په اوبو، په ژېړو صابونو لاسونه ووینځل. د وینځلو په وخت به یې راباندې کلیمه هم تېروله. راته به یې وویل چې څوک د هندوانو سره لاس وجنګوي نوهغه پلیت شي او بیا یې پاکول پکار وي. راته یې ویلي و چې څوک کلیمه تېروي نوهغه پاک وي. ما به انا نه پوښتنه وکړه چې "پلیت" څه وي نوهغې به ویل، ګنده. ما به بیا پوښتنه وکړه چې صبرو خو ګنده نه وه، د هغې جامې به ما نه هم پاکې وې. انا به ځواب نه راکوو. بیا به مې پوښتنه وکړه چې ما خو د صبرو سره لاس نه و لګولی نو لاس مې ځنګه پلیت شو؟ هغه به زما په دغو پوښتنو په قهر شوه.
د صبرو پلار چېرته تللی و او کله کله به د دوی کورمخې ته پولیس هم ولاړ وه. ما د پلارنه پوښتنه وکړه نو ویې ویل چې دا خلک به د پولیسو سره هندوستان ته ځي. زه به پلار سره د کوڅې نه بهر د نانوایي دوکان ته تلم او د صبرو د لیدو لپاره مې د هغوی د کور ټولو کړکېو ته کتل.خو هغه

به نه ښکارېده. یوه ورځ مې د پېړي نه اخوا دیخوا ټوپونه وهل چې هغې راته وویل " میرې کورته آو" یانې زما کورته راشه. ما انا ته وکتل چې مخامخ ښځې سره په خبرو بوخته وه. د هغې پام نه و، مونږ رسۍ ترپ بند کړل او دواړه د هغې کور دروازې ته ولاړو. شا ته مې وکتل نو انا د هغې ګاونډۍ د کړکۍ سره ولاړه وه او یو لوی څادر یې کتلو چې وربانډې ګلونه کښل شوي و او هغه ښځه د کړکۍ نه نیمه بهرځوړنده وه.
په بله شپېه زه د صبرو د کور په انګړ کې ولاړه وم. هلته لویه باولۍ او په کې د لاس پم (پمپ) مات ښکارېدو ځکه خو اوبه په کې نه وې. چاپېره د برنډو د ستنو سره دومره ښځې ولاړې وې چې زه حیرانه شوم. ما سوچ کوو چې په هغه کور کې صبرو یوازې د خپل مورسره اوسېده. هغوی ټولو ښځو خبرې نه کولې او ما ته یې کتل. یوه نرۍ نروچکې ښځه را وړاندې شوه او صبرو یې د لاس نه ونیوله. د انګړ په بل سر نغرې کې اور بلېدو او یوې ښځې پرې ډوډۍ پخولې. هغه ډوډۍ ډېرې نرۍ او وړې وې او زړه مې و چې ویې خورم. یوه شپېه تېره وه چې صبرو راته د میسو په یوې وړې کټورۍ کې دوه زیړ لډوان راکړل. هغې په خپله هم یو لډو خوړلو او زه خو د مټایي شوقینه وم، زر مې کټورۍ ونیوله او نیم لډو مې په خوله کې کړو. د صبرو مور راته کتل اوپه نرۍ خندا کې یې وویل، " ارام سې کهاو بیټا"
ما لا بل لډو نه و خوړلی چې زما د لاس نه چا هغه کټورۍ لکه د ټپوس یوړه. یو کړنګ وشو او هر څه په کاشي فرش دانه وانه شول. ما وارخطا بره وکتل نو یوې زړې ښځې راته په چیغه څه وویل. صبرو خپلې مور پسې پټه وه او مور یې هغې زړې ښځې ته په زوره زوره څه ویل. ما په فرش هغه مات شوي لډو ته کتل چې څنګه یې راټول کړم او ویې خورم. ناڅاپه یوې بلې ښځې هغه کټورۍ په پښه ووهله او د نغرې خوا ته یې یوړه. ما نه اوس لډو هېرشو او د کټورۍ په ننداره وم، هغې ښځې د نغرې نه راوتلې ایره واخیسته او کټورۍ یې پرې ډکه کړه. ما سوچ کوو چې اوس به راته دغه ایرې د خوړلو لپاره راکوي نو په ویرې مې منډې کړې او له هغه کوره ووتلم.
د صبرو د کور دروازې نه بهر راته انا ولاړه وه. زه یې د څټ نه ونیولم او دوه څپیړې یې راکړې، " مردارخورې، پلیتې، هردرۍ، ما درته نه و ویلي؟" ما په ژړا د هغې لاس نه ځان خلاص کړو او کور ته مې وځغستل.

کله چې د کور په دولسو پونیو وختلم نو مورزما د " کارنامې" نه خبره شوې وه او هغې هم راته وینا وکړه. "بس په کوڅه کې دې لوبې بندې شوې، سبا به ما سره د کور کارکوې" ما په چیغو چیغو ژړل او انا هم راپسې راغلې وه. هغې زه راګیره کړم خو نه مې پرېښوده چې جامې رانه وباسي.
مورهم ورسره لاس کوو اوما لتې ټکولي. اخرزه یې هغې باولۍ کې کېنولم چې د پمپ اوبه په کې جمع کېدې. په سختې ګرمۍ کې به مې کله کله د هغې وړې باولۍ سورې بند کړو او ښه ډېر پمپ به مې ووهلو چې هغه ډکه شي. بیا به په اوبو کې مې لامبو وهل. خو په هغه ورځ انا چې راباندې د اوبو ډک منګې واړو نو له وېرې وریږدېدم. هغې د وچې تورۍ په ماشوړه صابون وسولوو، ځګ یې جوړکړو اوهغه ماشوړه یې راباندې دومره کلکه ووهله چې هډوکې مې خوږېدل او ټول څرمن مې تک سور شو. خوله یې راباندې څو وارې کنګاله کړه چې د هغه لډو خوند یې هم رانه یوړو.
وروسته پاکې صفا جامې مې واغوستې نو لنډ ویښته یې راته ږمنځ کړل. زما په سر کې سپګې شوې وې نو پلار په تېر ژمي کې راته سر خریلی و او ما ټول وخت د شنې وړۍ جوړه ټوپۍ په سروله چې په مرۍ کې یې ځونډې و.
اوس مې ویښته لوی شوي وخو دومره ډېر نه و. بیا هم دا وه چې جینۍ ښکارېدم. د صبرو دوه لویي غټې کوڅۍ وې چې د رسۍ ترپ پر وخت به یې ټالۍ وهلې او ما ارمان کوو چې زما ویښته هم د هغې په شان لوی شي. په هغه ورځ ما ډوډۍ ونه خوړه او په سلګو سلګوسټړې شوم، یو وخت هم هلته په خپل کټ کې ویده وم.
مازدیګر د پلار د لیدو سره مې بیا ژړا پیل کړه او هغه چې زما کیسه واورېده نو انا او مور ته سخت په قهرشو. نه پوهېږم چې څه یې ورته وویل خو یوه خبره مې اوس هم یاده ده چې " هغوی هم د خدای پاک پیدا کړي دي". انا په زوره زوره لګیا وه چې د هندوانو شی یې خوړلی و او هغه پلیت خلک" دي. زه وېرېدم چې په بله ورځ دوی به مې د صبرو سره لوبو ته نه پرېږدي، خو داسې ونه شول. انا راته وویل چې په کوڅه کې لوبې کوه خو د هغوی کورته مه ځه. بیا ما او صبرو به هره ورځ رسۍ ترپ کول او انا به هم هغسې د ګاونډیانو سره په خبرو اخته وه.

څو ورځې وروستو روژه وه او ټول خلک به د غرمې په کورونو کې ویده و. ما خو روژې نه نیولې او سهار به مې ښه غټه پراټه د هګۍ سره خوړله. موراو انا به مې د غرمې تږې او ستړې وې نو د صبرو سره د لوبو لپاره راباندې دومره سختي نه کېده. صبرو راته وویل چې مسلمان " پلیت " وي نو ځکه د هغې خاله هغه کټورۍ په ایرو څو وارې پاکه کړې وه، ما په کور کې هېچا ته د کټورۍ حال نه و ویلی.

خدای خبر اتمه که لسمه روژه وه، پلار مې ویده واو د روژه ماتې نه لږ وړاندې موررراته "دوانیز" (سیکه) په لاس راکړو چې د نانوایي نه ډوډۍ راوړم. زه په منډه د پوړیو نه ښکته ولاړم او چې د نانوایي مخ ته ودرېدم نو رایاد شو چې د تودو ډوډیو د تاولو لپاره مې هغه سوردسترخوان نه و راوړی. هلته ډېرخلک د تازه ډوډۍ اخیستو ته ولاړ و خو نانوایي زه پېژندلم نو ماته یې د نورو نه مخکې څلورډوډۍ راکړې چې دومره تودې نه وې.

ما ډوډۍ په دواړو لاسونو کې نیولې، په کوڅه کې روانه وم. د صبرو کور مخې نه چې تېرېدم نو نابېره د صبرو د مورغږ مې واورېدو. " نشاط بیټې" هغه په خپله دروازه کې ولاړه وه، د شېشې یو جګ یې په لاس کې نیولی و او راته وویل، " توړا اوبه لا دو، هم پیاسې هین ( لږې اوبه راوړه مونږ تږي یو) زه وارخطا ودرېدم، په لاس کې مې ډوډۍ وې او نه پوهېدم چې اول هغه کورته یوسم او که د شېشې جګ ترې راواخلم. هغې لاس وړاندې کړو، ما نه یې ډوډۍ واخیستې او جګ یې راته راکړو.

د خپل کور دروازه مې خلاصه پرېښې وه او د جګ سره چې هلته ورسېدم نو د څرمنې چپلکې مې د پښو نه لرې کړې. بیا ورو غوندې دننه ولاړم چې بره په کور کې څوک خبر نشي. جګ مې د نل خولې پورې کلک ونیولو او ورو ورو د هغې مسینه " ټوټۍ" مې تاو کړه چې د اوبو شور پورته نشي. هم هغه وخت د جومات ملا اذان پیل کړو او زه پوه شوم چې ټول به په روژه ماتې لګیا وي.

د صبرو مور د نیمې خلاصې دروازې شا ته زما په انتظار ولاړه وه. ما نه یې د اوبو ډک جګ واخیستو او په خپلې ژبې کې یې راته دعاګانې وکړې. ما ترېنه خپلې ډوډۍ واخیستې او ځان مې په یوه منډه کورته ورسوو. چپلکې مې په پښو کړې او بره په دولسم پوړۍ ورسېدم نوغوږ مې ونیولو چې انا او مور مې څه وایي. هلته خاموشي وه ځکه ټولو روژه

ماته کړې وه او په لمانځه ولاړو. ما ډوډۍ په سور دسترخوان کې تاو او په شکورکې کېښودې. زما لپاره د لیمو د شربت ګیلاس هماغسې ډک ایښی و چې په یوه ساه مې وڅښلو.
په هغه ماښام ما د غوښې په ښوروا کې ډېر الوګان وخوړل او څوک پوهه نشول چې د تنور ډوډۍ مې ولې نه خوړه. خو د وېرې نه مې انا او مور ته نشو ویلی چې هغه ټولې ډوډۍ ډېر وخت د صبرو د مور په لاس کې وې او پلیتې وې.
نه مې یادیږي چې صبرو دوی کله هندوستان ته ولاړل او ما د هغوی په تلو څه وکړل. خو زه یې ښوونځي کې داخله کړې وم. ډېر کلونه تېرشول او د انا په مړینې کې هرچا وویل، " خدای دې ورله جنتونه ورکړي، داسې پاک خلک اوس چرته دي؟" زه تراوسه وېرېږم چې هسې نه انا په دوزخ کې وي.

۲۰۱۳ م لندن

## دوه کتابونه

"شاه صیب دا کتاب هم دا نن رارسېدلی دی" د سلیم غږ د هغه پېښې ونیولې او د کتابونو رېړې (د لاس ګاډي) ته ودرېدو. د ښار په دې لوی بازار کې به زرغون شاه هره ورځ څه نا څه کار پسې راتلو. یو څو ځلې د کتابونو ډکې رېړې ته یې هم پام کړی و او سلیم نومې ځوان سره به یې خبرې کولې.
په رېړې کې ټول کتابونه د پښتو ژبې و، نوي او زاړه په کې ګډ وډ پراته و. سلیم به زیات وخت د کتابونو په مطالعه بوخت و او داسې نه ښکارېده چې چا به ترې کتاب اخیستو. شاه صیب د سلیم په لاس کې نیولی د پښتوهغه نوس کتاب راواخیستو چې د یو مار مخ پرې جوړ و. سپین ښامار نومې دا کتاب د افغانستان د اوسنیو پېښو په اړه، یو نامتو لیکوال د ډېرو څېړنو وروسته په خپل لګښت چاپ کړی و. ده د کتاب څو پاڼې واړولې او ویې لیدل چې ورباندې بیه نه وه لیکل شوې.
هغه سلیم ته وکتل او د سترګو په اشاره یې ترې د کتاب بیه وپوښتله. سلیم ورته وویل ،" چا چې راته د خرڅ لپاره راوړی وو، وویل چې په یو نیم

سل روپۍ دانه دی" شاه په زوره زوره وخندل، " د پښتو کتاب او په یو نیم سل روپۍ! د نه منلو خبره ده." سلیم هم له ناخوالي وخندل او ورته یې وویل، " ما هم دغه خبره ملګري ته وکړه خو هغه وایي چې د کتاب د چاپ لګښت یې دومره نه دی څومره چې دوکانونو ته د دې ورلیږل ګران دي" شاه څو شېبې کتاب په لاس کې واړو راواړو او بیا یې سلیم ته وویل، " که زه سل روپۍ درکړم نو څنګه ؟" اوس سلیم په زوره وخندل او ملک ته یې وویل، " دومره واره مې نه راځي، زه لس روپۍ کمې راکړه، دا به ستاسو د چایو شي" شاه هغه کتاب په زوره بېرته په ربړې ورغوزار کړو او په تلو تلو کې یې ورته وویل، " خپل ملګري ته ووایه چې په دې بیه د پښتو کتاب څوک نه اخلي" د سلیم په غټو رڼو سترګو یو سیوری وغوړېدو خو بله شېبه د هغه ماشوم غږ ته یې پام شو چې د قلم بیه یې ترې پوښتله. " پنځه روپۍ"ماشوم ورته ژر پنځه روپۍ ورکړې چې سلیم د واسکټ جېب ته کړې. نن هغه په لومړي ځل خپلې ربړۍ کې د کتابونو سره یو څو چینایي قلمونه او کتابګوټي ایښي و او تر اوسه یې هم دا پلورلي و.

زرغون شاه چې کور ته ورسېدو نو یو اشنا ورته ټیلیفون وکړو چې په ملګرو ملتونو کې افسر و او ماښام د ښار په لوی هوټل کې د یوې مېلمستیا بلنه یې ورته ورکړه. هغه چې ماښام ځان جوړ کړو نو مېرمنې ورته ټینګار وکړو چې کور ته دې ژر راشي، ځکه د ښار وضع ښه نه وه او ځانمرګي بریدونه به اوس هره ورځ کېدل.

په ټاکلي وخت د ده اشنا ورپسې په خپل سپین موټر کې راغی او دوی د ښار نوې برخې ته روان شول. شاه په لاره خبر شو چې نن د کتاب نړیواله ورځ وه او هغه مېلمستیا په دې ویاړ جوړه شوې وه. په دې کې د یو کتاب په اړه هم خبرې کېدې او زرغون شاه د کتابونو سره علاقه لرله نو ځکه ملګري ورته ست وکړو.

دی اوس لا خوشاله شو او ورته یې وویل،" دا خو دې ثواب ګټلی دی، ته خبر یې چې کله راهیسې زمونږ په ښار د بمونو د چاودنو ټکه رالویدلې ده، د یوې غاړې نه مې هم د ادبیاتو، شعر یا د هنر خبر نه دی اوریدلی."

د ښار تر ټولو لوی هوټل چار چاپېره پوځیان ولاړ و. د عام ولس د موټرو لپاره یو بېل ځای ټاکل شوی و خو د بهرنیانو د موټرو د تالاشۍ ځای هم بېل و او دوی ته د هوټل لویې دروازې ته د تلو اجازه هم وه. د زرغون شاه اشنا بهرنی نه و خو د ده په سپین موټر د ان -جي- او نښه لګېدلې وه.

دوی د تالاشۍ نه وروسته د د هوټل لويي دروازې ته نژدې ولاړل او هلته له موټره ښکته شول.
شاه لومړی په خپلو وېښتو او بيا په برېتو لاس تېرکړو او په رڼاگانو ښايسته شوي تالار ته وردننه شول. هلته يو څو بهرنيان او د ښار ماړه او لوستي خلک راټول و. په سپينو جامو کې چست بېره گانو ټولو ته پتنوسونه گرځول چې په کې د شرابو نه علاوه د ميوو سره او نارنجي اوبه په جامونو کې ځلېدې. په نورو پتنوسونو کې د خوړو توکي و چې په گوتو به دې را اخيستل او يوه مړۍ به شول. شاه خپل ځينې نور ملگري هم په کې وليدل او تر څو چې يې ورسره روغبړ کوو، اعلان وشو چې مېلمانه دې د غونډې تالار ته ورشي.
هلته د ټولو لپاره کرسۍ ايښې وې او په مايکرفون د هېواد تر ټولو نامتو ژورنالېست ولاړ و. هغه ټولو ته هر کلی وويل او بيا څو مېلمنو پرله پسې د کتاب او د لوست په ارزښت خبرې وکړې. ژورنالېست د انگرېزۍ ژبې يو کتاب راواخيستو چې د افغانستان د وروستيو پېښنو په اړه ليکل شوی و. د دې کتاب د مخ د پاڼې پوسټر د سټېج په دېوال او په تالار کې هم ځړول شوی و. د کتاب په اړه يو څوخبرې وشوې نو په تالار کې رڼا گانې تتې شوې. مخامخ په پرده يو ويډيو فلم وښودل شو چې په کې د کتاب ليکوال دخپلو هڅو او د څېړنو په اړه غږېدو.
د دې لنډ فلم نه وروسته ټولو مېلمنو ته زېری ورکړل شو چې د تالار په يو اړخ کې د ليکوال له خوا دستخط (لاس ليک) شوی د هغه کتاب سل کاپيانې اېښودل شوي دي او په ځانگړې بيه چې د بازار نه لږ وه خرڅول کېږي.
د دې اعلان سره غونډه پای ته ورسېده او ټول مېلمانه په مېزونو ايښي کتابونوته لکه د شاتو د مچيو ورټول شول.
شاه هم د خپل ملگري سره د خلکو په ليکه کې په انتظار شو. يوکس نه چې کتاب يې په لاس کې و د کتاب د بيې پوښتنه وکړه. " ۳۰ ډالره" هغه ورته وويل. شاه خپل جېب کې لاس ووهلو نو ملگري ورته وويل، " که ډالرې درسره نه وي نو زه به يې ورکړم" ده خپله بټوه راوويستله او ملگري ته يې وويل، " ياره ستا دا احسان لا راباندې ډېر دی چې دلته دې راوستلم، که نه دا کتاب به مې له کومه ځايه راغوښتو." ملگري ورته وخندل " په ۳۰ ډالره خو ماته دا کتاب يو څه گران ..." ده ژر د هغه خبره ونيوله ، "گرانه...ته لېونی يې، په دې خو د ليکوال دستخط هم شوی

دی، داسي کاپياني خو لږ وي.  ما ته خو که څوک په ۵۰ ډالره هم راکړي، نو اخلم يې.  دا خو زمونږ د وطن تاريخ دی او د دې د ليکوال هم کور ودان چې دومره وخت يې پرې تېر کړی دی" د شاه د لاس نه ۳۰ ډالرو يو بل سپين لاس ته کډه وکړه او لږه شېبه وروسته هغه کتاب په ترخ کې وهلی موټر لوري ته روان شو.
زرغون شاه چې کور ته ورسېدو نو نېغ خپلې کوټې ته ولاړو.  هلته د ۳۰ ډالرو هغه کتاب يې په يوې ښکلې الماری کې بند کړو او بيا په تلويزون د انګرېزي فلم په کتلو بوخت شو.
په هغه ماښام د ښار په زړه برخه کې د تنګو کوڅو په څنډو جوړ په يو وړوکي کور کې سليم نومي ځوان لږه شېبه وړاندې د چايو سره ډوډۍ خوړلې او اوس د پښتو هغه کتاب په لوستلو بوخت و چې ليکوال په کې د افغانستان پېښې څېړلې وې.

۲۰۱۲ م لندن

## ستن تار

شېري زما اتله وه. هغه ما ته لکه د خدای د نور يوه پلوشه وه.  کله راهيسې چې هغې راته د خپل ژوند کيسه کړې وه، زما په زړه کې د هغې درنښت نور هم زيات شوی و.  دومره اوچته ښځه په دومره لوی مقام يوازې د خپل استعداد په زور رسيدلې وه، زه اوس هم ورته ډېر درنښت لرم.
د ميلان ښار په زړه کې د جامو نندارتون او يو دوکان د شېري په نوم و چې د فېشن په نړۍ کې يې شهرت لرلو.  په کال کې دوه ځلې به هغې د خپلو نويو جامو او لباسونو نمونې د ننداري لپاره وړاندې کولې او بيا به د جامو پلورونکو ورته فرمايش ورکوو چې دا نمونې په لوی شمېر ورته جوړ کړي.  د هغې د نوم ټاپه چې په کوم کميس لګيدلی وه، د نړۍ په لويو بازارونو کې په ګرانه بيه خرڅېده.
زه د شېري يوه معمولي خياطه وم، چې يو وخت د اروپايي ډول جامو په جوړولو هېڅ نه پوهېدم.  که وګورئ نو زما او د شيري د ژوند کيسه ورته وه، سيوا له دې چې هغه ما نه په عمر کې مشره وه.  زه د کراچۍ په ښار کې د يو معمولي سرکاري ملازم لور چې سبق کې دومره تکړه نه وم.

شېري د فرانسې او د ايټاليا تر منځ د يو کلي اوسېدونکې او د ښوونځي د سبق نه وروستو يې په يوې هټۍ کې ستن تار او د ګنډلو نور واړه توکي خرڅول.
زمونږ په محلت کې هرې جينۍ ته د کور کارونه ښودل کيده. په کور کې د زړې زمانې يو مشين پروت و چې ما پرې چل زده کړو او ورو ورو د کور د ټولو غړو جامې مې ورباندې ګنډلې. کله نا کله د ګاونډ جينکو سره به مې د کباړ رنګينې مجلې وليدې او د هغې لباسونو په ډيزاين مې ماشومانو ته جامې جوړولې. اخوا شېري د ستن تار په هټۍ کې د جامو د ډيزاين زړې مجلې ليدې او په خپل کور کې به يې هغسې کميسونه ځان ته جوړول.
زه د ٢٢کالو واده شوم او د خپل مېړه سره ميلان ته راغلم چې ډېر پخوا نه دلته اوسېدو او د يوې ايټالوۍ ښځې سره يې واده هم کړی و، خو وروستو ترې بېل شو او زه يې را واده کړم. مېړه مې رانه ٣٠ کاله مشر و خو زمونږ د ليرې خپلوانو سره يې پېژندل چې زه يې ورته وښودلم. زما درې نورې خويندې هم دي او مور مې انديښمنه وه چې څنګه به يې ودوي نو ښايي زما نه يې ځان خلاص کړو.
د واده نه وروستو په نوي ملک کې ژوند راته ډېر عجيبه ښکارېدو. مېړه به مې د مازديګر کار ته تلو چې د يو هوټل ملازم و. د شپې يوې او دوو بجو پورې به په کار بوخت و. زه په ژبه هم نه پوهېدم او په بازار کې به مې په ماته ګوډه انګرېزي خپله سودا کوله. کال وروستو مې زوی وشو خو هغه به دومره ژړل چې مېړه مې د ده د لاسه خوب نشو کولی. هغه به مې په ګاډي کې واچوو او ترغرمې به مې بهر ګرځوو. يوه ورځ د خپل اپارټمنټ دالان ته چې راغلم نو د پونو د دېوال سره مې د ګنډلو مشين وليدو. دلته کله کله خلک خپل د کور فالتو سامان همدغسې په لاره کې کېږدي چې که د چا پکار وي نو اوچت دې کړي. زه کور ته ولاړم او مېړه ته مې وويل نو هغه مشين يې راته راوړو.
شېري هم د يو پاخه عمر سړي سره واده کړی و چې د هغې خوښ و. هغه د خپل کلي نه ووتله او په روم کې يې ژوند پيل کړو. هلته يې ماشوم وزېږېدو او مېړه يې پېسې لرلې خو شېري د جامو د ډيزاين په يو کالج کې داخله واخيسته. په لږه موده کې هغې د مېړه په مرسته يو وړوکی دوکان

خلاص کړو چې خپل ډیزاین شوې جامې به یې په کې خرڅولې. یوه ځوانه جینۍ یې هم ساتلې وه چې ګنډل یې زده و.
د هغه زوړ مشین د بېخ په ډبي کې د دې ټولې پرزې او ستنې ایښې وې او سم دم کار یې کوو. مازدیګر چې زما مېړه به کار ته ولاړو او زوی به مې ویده کړو نو په مشین به مې څه نا څه ګنډل. د خپل ماشوم لپاره به مې وربانديې کمیسونه او جانګیې جوړول.
یوه ورځ د زوی د ګاډي سره په سړکونو ګرځېدم چې د شېري نومې دوکان په شیشه کې مې د ماشوم پټلون او جمپر ولیدل. دا یو ځای ګنډل شوي و او وربانديې سور ګلاب په ډېر مهارت ټومبلی و. ما په بله ورځ د مېړه زوړ د جین پټلون وسپړو او د خپل زوی شاکر لپاره مې ترې هماغسې جامې جوړې کړې. دی اوس د یو نیم کال و او قدم به یې وهلو نو هغه ته مې دا جامې ورواغوستې. د سور ګلاب پر ځای مې وربانديې نیلا غاټول په تارونو جوړ کړو او ورسره ښه ښکارېده.
ما هغه نژدې پارک ته بوتلو چې د وړو ماشومانو ټالونه او زانګوګانې یې لرلې. په پارک کې نور ماشومان هم و خو پام مې شو چې ځینو زما زوی ته بیا بیا کتل. یوه ښځه رانژدې شوه او ما ورسره په ماتې ګوډې ایټالوۍ کې خبرې پیل کړې. زما نه یې پوښتنه وکړه چې د ماشوم لباس مې کوم ځای نه اخیستې و. ما ورته وخندل چې په خپله مې جوړ کړی و. هغه یو څه حېرانه وه او په لاس یې د ماشوم جامې وپلټلې.
د شېري په ورکشاپ کې کار ډېر شو نو هغه نوره هم بوخته شوه او کله چې د هغې ډیزاین شوې جامې د ایټالیا د ځوانانو یوه سیالي وګټله نو د دې عکسونه په ورځپاڼو او مجلو کې خپاره شول. د میلان تر ټولو لوی نندارتون ورته بلنه ورکړه چې خپلې جامې دې ننداري ته وړاندې کړي.
هغه کال دا ډېره بوخته شوه او زوی یې زیات به د دې مېړه سره و.
شېري د بانک نه پور واخیستو او نور خلک یې په کار وګومارل چې نندارتون لپاره جامې جوړې کړي.
هغې ښځې راته خپل کارټ راکړو چې پئیره نومېده او د شېري یوه خیاطه وه. په کارټ د شېري د نوم "ابس" هم جوړ شوی و چې د شهرت ټاپه وه. دوی نورو خیاطانو ته اړتیا لرله او پئیره راته د کار پېشکش وکړو. په بله ورځ زه د ژوند په کاروبار بوخته شوم ځکه کارټ مې مېړه ته ښودلی و او هغه ورسره څه شوق څرګند نکړو.

ځو ورځې وروستو مې شاکر بیا پارک ته ویستی و. هماغه ښځې پئیره راته د لیرې نه لاس وخوځوو چې د غرمې ډوډۍ په وقفه کې به هغې پارک ته راتله او سیگرټ به یې څکول. شاکر زما د زوړ کوټ د تیکې نه رغول شوی جېکټ اغوستی و. هماغسې جېکټ ما د یو بل ماشوم په غاړه لیدلی و خو په هغې د پلاستیکو توکمې وې او ما وربانډې د خپل یو مات امېل غټې سرې مرۍ لگولې وې. پئیره د جیکټ صفتونه کول او بیا یې راته ست وکړو چې د دې د کار ځای ته ورسره ولاړه شم.
زه د مېړه نه وېرېدم او بې له اجازې ورسره نشوم ورتلې، خو پیئره د لاس په اشاره راته وویل چې د دوی ورکشاپ پارک ته مخامخ و. ما شاکر گاډي کې کېنولو او ورسره ولاړم. زه د دې دوکان مخې نه څو وارې تېره شوې وم او د دوی د جامو څو نمونې مې په خپله جوړې کړې وې. د دوکان شا ته بله دروازه او دننه لوی ورکشاپ و. هلته څو لوی د گنډلو مشینونه، مېزونه، د برقي تارونو سره ځوړند داسې الات و چې ما پخوا نه و لیدلي. څو کسان په کار بوخت و چې مخې ته یې په یوه لویه تخته د واده د یو کمیس ډیزاین جوړ و. هر چا د کمیس برخې ځان ځان له جوړولې.
ما ته یې خوند راکړو او هوډ مې وکړو چې دلته کار کولی شم. مېړه مې زما د کارسره مخالفت نه لرلو خو د ماشوم د ساتنې لپاره یې راته بندوبست هم نه کوو. پیئره راته هغه انتظام وکړو او د وړکتون په پېسو مې ورسره بحث وکړو چې اخر یې راته په کانټرېکټ یا قرارداد کې ولیکلې.
شبرې هغه کال د میلان په ننداړتون کې د یو ستوري په شان ووځلېده او هرې خوا ته د دې د جامو ډنډوره شوه. خو هر گلاب ازغي هم لري. د دې ماشوم زوی چې پلار ساتلو، یوه ورځ د کور په بالکنې وختلو، پښه یې خطا شوه او د دریم پوړ نه په سړک ولوېدو. د دې مېړه هغه وخت په غسل خانه کې و او شپږ. کلن "بونیتو" په ایمبولانس کې یې روغتون ته یوړو. د هغه د ملا تېر مات شوی و او په گرځنده کرسۍ کې کېناستو. اوس هغه د ۲۰ کالو ښکلی ځوان دی او په ډانگورو گرځېدی شي.
شبرې په خپله به زیات وخت بهر ملکونو ته تله او یو سپین ږیری جورج فیته په غاړه او خړچاک به یې په لاس کې وو، زمونږ د ټولو کارونه یې له نظره تېرول. مونږ ټول اته کسان به په دې ورکشاپ کې په کار بوخت و چې د شبرې نمونه شویو انځورونو ته به مو کټل او خپله خپله برخه کارونه

به مو ترسره کول. په نورو ځایونو کې هم د دې جامې جوړېدې خو هغوی په نورو ښارونو کې وه.
د یو څو وړو وړو کارونو نه وروستو زما استعداد ټولو ته په هغه ورځ څرګند شو چې د واده د سپین کمیس غاړه چا ورانه وګنډله. د دې ډیزاین په خپله شېري جوړ کړی و او ټول وارخطا و ځکه په لنډ وخت کې به بل کمیس رغول کېدو. ما اصل ډیزاین ته وکتل او بیا مې د وران کمیس غاړه ولیده. جورج نه مې اجازه واخیسته چې زه یې رغوم. پوهه نشوم چې څومره وخت مې ورباندې تېر کړو خو د کمیس غاړه مې په داسې هنر جوړه کړه چې یوه بخیه هم په کې نه ښکارېده او نه چا معلومولی شول چې غاړه ورانه وه.
زما اصل ازموینه هغه وخت کېده چې شېري ته یې کمیس وښودلو. هغې کمیس معاینه کړو او خبره نه وه چې په غاړه یې څه چل شوی و. خو جورج له هغې وېرېدو او ورته یې ټوله کیسه وکړه. شېري هغه کمیس رد کړو او د بل کمیس د جوړولو امر یې وکړو. په ورکشاپ کې ټول حېرانه و چې شېري ولې هغه کمیس مشتریانو ته نه و استولی او نوی کمیس یې غوښتو. یوې ښځې وویل چې هغه لېونۍ وه او د کارګرانو د استعداد نه سوځي. خو پئیره وویل "دا ټاپه د باور نښه ده او هغې خپلو مشتریانو ته دوکه نشوه ورکولی"
شېري زما لیدو ته راغله او زه یې یو کېفې یا قهوه خانې ته بوتلم. راسره یې اوږدې خبرې وکړې او زما د زدکړو او کور په اړه یې وپوښتل. راته یې مشوره راکړه چې وړاندې تلو لپاره د جامو د ډیزاین کورس ضرور و. شېري په درېو ژبو ایټالوی، فرانسوي او انګرېزي خبرې کولی شوې او د فېشن په مجلو به یې کله کله د دې رنګین عکس هم خپرېدو. هغه به زر په قهر کېده او که په ګنډل شویو جامو کې یې څه غلطي ولیده نو دا په چیغو به شوه او خلک به یې سپک کړل. ډېرو نازک طبع ښځو او سړو د دې په رویه ورته کار پرېښې و خو هغې خپل عادت بدل نکړو.
ما سره شېري یوه ورځ په معمولي خبره ورانه شوه او نژدې وه چې ما هم کار پرېښې وای خو زه ملامته وم. د هغې جوړ ډیزاین می سم نه و ګنډلی ځکه خو مې ترینه بخښنه وغوښته. بس په هاغه ورځ زمونږ ملګرتیا پیل شوه. کله کله هغې به په خپل موټر کې کښېنولم او یو نندارتون ته به یې

بوتلم. په لاره به مو د جامو او نوي فېشن خبرې کولې. هغه يوه فنکاره وه او زه پوهه شوم چې ډېرحساس زړه لري.
ما د اروپايي جامو د ډيزاين او زدکړې لپاره لومړی ايټالوۍ ژبه زده کړه او ورپسې په يو کالج کې مې داخله وکړه چې د غرمې دوه ساعته به يې کلاس و. زوی مې د پنځو کالو شو نو په ښوونځي کې داخل شو او په هغه کال ما د جامو د ډيزاين ډيپلومه واخيسته. د ژمي د جامو په فېشن کې نابېره بدلون راغلی و. سږ کال کوټونه اوږده خو د اوړي لباسونه بيا لنډ او تنګ وو. د فېشن په نړۍ کې خبرګرم و چې سږ کال د فرانسې نه انقلاب را روان و، خو څوک خبر نه و چې بدلون به څه وي. ما اوس هر ډول لباس ډيزاين کولی شو او په خپله به مې ګنډلو. شېرې به هم رانه مشورې اخيستې او ما به د هغې جوړې شوې خاکې ورته اصلاح کولې. کله داسې هم کېده چې دواړو به په ګډه يو کميس ډيزاين کړو او ما به ورله په خپلو لاسونو جوړ کړو. ورته به مې خندل چې دواړه لکه د ستن تار يو بل ته اړ يو، که ستنه نه وي، تار به څوک څه کړي او که تار نه وي نوستنه بيکاره ده.
د اوړي د جامو نندارتون لپاره مونږ دواړه بوخت شو. ټوله شپه به مو د لويو تختو په اوچت مېز په ولاړه د جامو انخورونه جوړول. دا لومړی ځل و چې هغې زما ډيزاين شوي يو پوره لباس په ننداټون کې د شاملولو فېصله کړې وه. دا د اوړي د غرمې د اغوستو لباس و چې د پاکستاني کميس په ډول يې ځاکونه لرل. په اوږدو لستونو يې د ورېښم يو لوی ګل جوړ و. د نازک شيفون لوپټه د هغه ګل په ډول تاو شوی جېکټ و چې غاړه يې په يو سوچه ملغلري بندېده. په دې لباس زما نوم ټاپه شوی و او د خبرتيا په پاڼه کې هم ليکل شوی و.
د ننداټون په شپه زما مېړه د کار نه رخصت اخيستی و چې شاکر راته وساتي. هغه به زما په بوختياوو خوشاله نه و خو هره مياشت زما د کار ډېرې پېسې به بانک کې راتلې نو خوله يې بنده وه. دی د ښار نه بهر د يوې ويلا ( وړوکي محل) اخيستو ته لېواله و. زمونږ په ژوند کې اوس هغه محروميت نه و چې د پېسو په نشتوالي مو زغملو. د ننداټون په پای کې شېرې زه د لاس نه ونيولم او د ناستو خلکو په وړاندې يې بوتلم. ټولو لاسونه پړکول او زما جوړ لباس خلکو بيا بيا ستايلو. نه پوهېږم چې ما به په هغه شپه د څومره خلکو مننه کړې وي او څومره کېمرو زما عکسونه

واخیستل. د ښېري خزانه دار ته د جامو خرڅوونکي یو لوی ستور هم هغه شېبه د دې لباس لپاره بولي ورکړې وه.
د شپې یوه بجه زه ستړې ستومانه کور ته راغلم نو پلار او زوی دواړه نه و. زه حېرانه شوم چې په دې مهال چېرته تللي و. زوی به مې کله کله د پیزا فرمایش کوو خو په دې وخت زیات رستورانونه به بند و. زه لا په دې چرتونو کې وم چې د کور ټیلیفون وغرېدو او بل سر کې زما مېړه چې راته څه وویل هغه راباندې سر وگرځوو. شاکر د خپل وړوکی بایسکل نه لویدلی و او روغتون ته یې وړی و.
زه په ترات ښکته ولاړم او په ټېکسي کې مې تولو لاره دعاگانې کولې. نه پوهېږم ولې هغه وخت ما ته د ښېري زوی بونیتو رایادېدو. په زړه کې مې خدای ته زاریٰ کولې چې ما ته سزا راکړه خو زوی مې معیوب نکړې.
هلته په رسېدو مخامخ د روغتون په لویه دروازه راته مېړه ولاړ و او تر څو چې مونږ شاکر ته رسېدو، راته یې تولو کیسه وکړه چې هغه څه وخت او څنگه د بایسیکل سره بهر وتلی و. د شپې زمونږ د کور مخه خوشي وې او هوا گرمه وې نو ماشومان هلته په بایسکلونو لوبې کوي. ما شاکر ته چرې هم اجازه نه وه ورکړې چې د شپې په سړک لوبې وکړي.
هغه د بایسکل نه لویدلی نه و بلکه په سړک یو موټر وهلی و، اوس بې هوشه پروت و او ډاکټرانو وویل چې د ښټ هډوکی یې مات شوی و.

۲۰۱۱ م لندن

## کوډې

د پیروزې ببو د خېټې دوزخ په هېڅ شي نه ډکېدو. له سهاره چې د چایو د ښېنلو سره د هغې د خولې ور پرانستل شو نو تر شپې ویده کېدو وخت پورې به یې خوله نه بندېده. هر څومره چې به یې خوړل، هماغومره یې لوږه زیاتېده.
نن هم پیروزې ببو د چایو لوښي راتول کړل او د ماشومانو نه پاتې د پراټو خخوسکې یې یو ځای د پیروي په کاسه کې ډېرې کړل. د ټولو پاتې پرچونو نه یې شات په گوتو را وڅڅېدل خو هغه یې هم د کاسې د ملغوبې سره یو ځای وخوړل. تر څو چې د کور خدمتگاره د لوښو وړلو لپاره

راتله. پېروزې ببو هر څه په لويو لويو نمړيو د خولې نه تېر کړي و. د پاڅېدو پر وخت به يې وويل، "رزق ضايع کول نه دي پکار."
پېروزې ببو د رزق سره ډېره مينه وه. د چايو به ايله څو شېبې تېرې شوې وې چې هغې به د غرمې د کټوئ لپاره ترکاري کې لاس ووهلو. د کور نورو ښځو به د مټر نه داني ويستلې او که ګازرې به يې سپينولې،
پېروزې ببو به ترې چونګ ډک خولې ته کړو. بيا به يې د چا ماشوم ته پيسې ورکړې چې د کوڅې نه ايشيدلي وړي، ګنډېري او يا بل هر څه چې خرڅېدل، ورته راوړي.
په دې لوی کور کې ښځې او سړي ډېر و او ماشومان ترې لا زيات و.
هاغه چې ښوونځيو ته به نه تلل، ټوله ورځ به يې د پېروزې ببو له د خوراک شيان راوړل. کله کله به په ببو چپه راغله نو د بسکټو پوره ډبی به يې په يو وار وخوړو. يا به يې هندوانه ماته کړه، نيمه به په يو وخت او نيمه به څو شېبې وروسته خوړه. په داسې وخت کې به هغه لکه د يو ځاروي په خپل ځای سملاسته او په خېټه به يې لاس وهلو. د هغې خوابنې به ورته په بدو ردو شوه، " ځواني مرګې، خيټه دې ده که تنور، چې هر څه په کې سوځي، زما زوی دې وخوړو، خو ستا په خيټه دې لعنت وي."
کله کله به پېروزه په نيمه شپه کې به راپاڅيده او په پخلنځي کې به يې وچه ډودۍ د غوړو او چينې سره وخوړل.
پېروزه په ځوانۍ کې کونډه شوې وه. په دې پوهېده چې ډېرخواړه تاوان لري خو د هغې په وجود کې دننه يوه داسې ناليدلې بلا ناسته وه چې په هېڅ شي نه مړېده. خپل علاجونه يې هم کول. د خېټې د چينجو د دارو نه تر روژو نيولو پورې هر څه يې وکړل، ژاولې يې ژوولې خو اثر يې نه و. د هغې د خوابنې ملګرې چې د ښار د يوې ډاکټرې صفتونه به يې کول، ورته مشوره ورکړه چې نږدې دې هغې ډاکټرې ته وښايي. هماغسې وشول او پېروزه يې دې لوی ډاکټرې ته بوتله. د هغې د طبي معاينې نه وروستو، ډاکټرې دا بلې کوټې ته واستوله او د هغې خوابنې سره يې اوږدې خبرې وکړې.
پېروزه او خوابنې يې چې له ډاکټره راوګرځيدې نو يو ډول ګولۍ ورسره وې، چې ډاکټر ورته ليکلې او هغوی د درملتون نه اخيستې وې. خو تر ډېرو ورځو په کور کې څوک خبر نه و چې د پېروزې مرض څه و.

پیروزه یو څو ورځې د ګولیو په خوړو ارامه معلومېده او د خوابښې یې
هیله پیدا شوه چې د هغې مرض په ښه کېدو و.
د ښار ترټولو لوی ډاکټرې د مریضانو دوسیې خپل مشر ته وړاندې کولې
او یو یو مریض په اړه یې خبرې کولې. په دې کې د پیروزه په نوم د یوې
مېرمنې دوسیه هم وه . د دې په لیدو ډاکټرې وویل، " زمونږ په ټولنه کې
ښځو ته څوک ښه ډوډۍ نه ورکوي او تل خوارې وي، خو دا یوه عجیبه
قضیه ده. مریضه ځوانه کونډه ده، اولاد نه لري او هغه کمې چې د دی په
ژوند کې دې، په دوډۍ پوره کوي." مشر ډاکټر خپلې عینکې له سترګو
لیرې کړې او د ډاکټرې نه یې وپوښتل، " نو تا ورته څه مشوره ورکړه؟"
ډاکټرې وویل، " ما د اینټي ډپریشن معمولي ګولۍ ورته ولیکلې خو د هغې
خوابښې ته مې غوږونه خلاص کړل چې یا خو ورته بل واده وکړي او یا
څه مصروفیت دې ورته پیدا کړي." مشر ډاکټر عینکې په سترګو کړې او
سر یې وخوځوو، " فکر نه کوم چې دوی به داکار وکړي"
پیروزه د ډاکټرې په ګولیو هم ښه نشوه او د هغې وجود اوس دومره
وپړسېدو چې په لاره به نشوه تلې. د هغې مشری ایندرور مور ته وویل
چې په پیروزې ارو مرو یا سیوری و او یا پرې چا کودې کړي دي. څو
ورځې چې تېرې شوې نو پیروزه بیا د خپلې خوابښې سره روانه وه. دا
ځلې د دوی مخه د ښار زړې برخې ته وه. هلته یو پیر ډېر د کرامت
خاوند و او د کوډو علاج به یې کوو، دوی چې بېرته راغلې نو په بله ورځ
په کور کې د ښځو جنګ ونښتو.
پیر صیب پیروزې ته ویلي و چې " یوې ښځې دربندې کوډې کړې دي او
دا ښځه ستا په کور کې وه." اوس ټولو د دې ملامتیا د پیروزې په مشرې
یور واچوله چې څو ورځې د مخه یې ورسره ناندرۍ وهلې وې.
۲۰۱۰ م پېښور

دیوداس

د هغې خوشاله فلمونه خوښېدل، خوشاله کیسې به یې اورېدې او د غمژنو
فلمونو نه به یې ځان ساتلو. په دې ښار کې ډېرې سینما ګانې دي او هره
اوونۍ په کې نوي فلمونه ښودل کیږي. زما او د هغې ملګرتیا د دې فلمونو

په تبصرو وشوه. په یو کالج کې مو سبق ویلو او د یو څو مضمونونو لپاره به په لکچر خونه کې یو ځای شو. کله په تفریح کې به د نورو ملګرو په ډله کې د یو بل سره مو بحث پیل کړو نو تول به غلي و او مونږ به لګیا و. بیا داسې شوه چې هغې به فلم ولیدو نو کیسه به یې بدلوله.
" دا کیسه داسې نه وه پکار" هغې به په باور وویل او ما به ترې پوښتنه وکړه " څنګه پکار وه؟" دا به لګیا شوه چې که په فلاني ځای کې د موټر پر ځای هلک په بس کې تللې وې نو ښه به وه." یا " هیروین که د غریب کور نه وای نو په کیسه کې به زور پیدا شوی وي."
زه څه خبر وم چې "دیوداس" فلم به ما ته غم شي. د دې فلم لومړنۍ " شو" لیدلو ته د خپل یو ملګري سره ولاړم. په بله ورځ مې ورته وویل چې ویې ګوره، ښه فلم دی،هغې فلم ولیدو نو په دویمه ورځ یې سترګې په تورو عېنکو کې پټې کړې وې. زه پوهه شوم چې فلم ته به یې ژړلي وي. ما ته یې وویل، "ګوره د فلم پای داسې نه و پکار." ما ترې پوښتنه وکړه، " ښه نو څنګه پکار و؟" دې وویل، "پکار وه چې دیوداس او چندرمکهي واده کړی وای." ما وخندل، داسې څنګه کېدې شوه. دېوداس خو د پاروتي سره مینه لرله."
هغه شیبه غلې وه بیا یې وویل، "د پاروتي مېړه به مړ شوی وای او دوی دواړو به واده سره کړی وای." ما ورته وویل. په هغه مذهب کې کونډه بل واده نشي کولی." دې ما سره جنګ پیل کړو. " تاسو سړو دا هر قانون د ښځو پر ضد جوړ کړی دی."
څو ورځې وروسته دا خوشاله وه راته یې وویل، " د فلم کیسه مې یو څه نوره بدله کړه. "
"هغه څنګه؟" ما ته دا په زړه پورې وه.
"د پارو د واده پر وخت دیوداس ورته منت زارۍ وکړي نو دا دهغه سره ولاړه شي"
ما غوږونو ته ګوتې یوړې، " توبه ،توبه، پارو خو ډېره نېکه جینۍ ده. دا څنګه امکان لري، پارو خپل مور پلار ته دا بدنامي نشوه اړولې."
دا په سوچ کې شوه او راته یې وویل، "کله کله نېک کسان هم بد کارونه کوي"
ما ته یې خوند رانکړو او پوښتنه مې وکړه، "دهغه سړي کورنۍ ډېره درنه او شتمنه ده، ایا هغوی به دا خبره ورسره منلې وای؟"

هغې ژر راته وويل، " هغه  ته يوه بله جينۍ ور واده کړي، د پارو هغه ښکلي ملګرې چې ورسره ګډېده."
زمونږ سبق په خلاصېدو و او ځو ورځې مو د ازموينو لپاره تياری کوه.  د ازموينو نه وروسته مې دا وليده او د ډېرو خبرو نه وروسته يې راته وويل، "د دېوداس کيسه مې بيا بدله کړه.  د جينۍ او هلک دواړو مور پلار د دوی په واده راضي شول او" ...
ما ورته وويل، "ښه نو بيا چندرمکهي څه شوه.  هغه به څه کوي؟"  دا په سوچ کې شوه خو ژر يې وويل، "هغه به د ديوداس د ملګري سره واده وکړي."
ما ورته سر وخوځوو، " داسې نه کيږي، چندر مکهي هم د دېوداس سره مينه کوي"
هغه پيکه غوندې شوه..."بس بس زه خبره يم".
مونږ ډېره موده د يو بل سره ونه ليدل او زه په نوکرۍ بوخت شوم.  يوه ورځ د دفتر په ټيليفون کې يې راسره خبرې وکړې " ما له پلار نه وغواړه، اوس خو دې کارهم موندلې دی".  ما ورته وويل ستا کورنۍ خانه ده هسې نه چې...
دې وويل، "ما مور ته ويلې دي. هغه راضي ده"
اوس د هغې خبرې لس کاله تېرشوي دي، زما درې اولادونه دي او په خپل ژوند راضي يم.  زما مور کله چې د هغې غوښتو له ورکړه تللې وه، تش لاس راغله.  د هغې پلار ورته وويل  چې دا يې د ماما زوی ته ورکړې ده او  هغه په بهر ملک کې ډېر ښه کاروبار لري، ما هغه بيا ونه ليده.
چرې په ژوند کې مې ورسره بيا خبرې ونکړې، خو کله کله سوچ کوم چې د هغې د ژوند کيسه به څنګه وي؟
ديوداس به مړ وي که ژوندی؟
۲۰۰۹ م لندن

## تاجبرو ترور

ترور به ویل چې هر وختې مه خورئ، هر وختې شخوند وهل د
څارویو کار وي، هغه څه خورئ چې زړه مو ورته کېږي، که زړه
مو نه وي نو هېڅ شي خېټې ته مه اړوئ."
د کلي نورې ښځې به په یوه مخه لکه د مچانو وبنګیدې چې، " زما
د خوښې شی هر وختې نه پیدا کېږي...ته د مړې ګېډې خبرې
کوې... تا په شان به څوک وي؟" د تاجبرو ترور څو جوړه جامې
او د څپلیو یوه جوړه به یې د ټیم په صندوق کې و. په اوړي کې د
ململ لوپټه او د کاټن جامې، په ژمي کې د لیلون جامې او ورسره د
وړۍ پټو به یې په سر و. د هغې په وړاندې ماشومان لوی شول،
واده شول، د اولادونو میندې او پلرونه شول خو تاجبرو هماغسې
پاتې شوه.
ځوانانو به وویل، " مونږ به زاړه شو خو تاجبرو ترور نه زړېږي."
په مخ یې ګونځې نه وې او نه به ناروغه کېده. په زړښت کې هم
تکړه وه او د سپین سرو یو مرض هم ورته نه و.
په مخ یې داسې سکون و، لکه د شین اسمان لاندې سمندر. ښځو به
ورسره ټوکې کولې چې تاجبرو یو خاص شی خوري چې دغسې
روغه وه. دا به موسکۍ شوه او ویې ویل، " زه تر هغې ډوډۍ نه
خورم، ترڅو مې ورته زړه نه وي شوې."
د خپل کار د فشارونو له امله زما ډوډۍ ګډه وډه وه. سهار به بې له
چایو کورنه وتلم. په دفتر کې هر څه چې مې مخې ته راتلل،
خوړل. د غرمې کله په خپل میز د کمپیوټر مخې ته سینډوچ
وخوړو یا د بازار تیاره ډوډۍ وه. کله به اوزګار نه وم او د غرمې
د ډوډۍ په ځای به مې کېک یا بسکټ د چایو سره وخوړل.
ماښام د ستړیا له کبله زړه به مې هېڅ شي ته نه و خو په زوره به
مې څه نا څه خېټې ته واړول. پوهه نشوم چې څه وختې زما وزن
د خپل حد نه زیات شو. د یوې ملګرې نه مې پوښتنه وکړه چې
وزن یې زیات نه و، هغې راته وویل، " کاربو هایډریټ ډایټ شروع
کړه" دا د ۱۹۹۲ م خبره وه او د امریکا د غذایي څېړنو یوې

اداري د څو کلونو د تجربو نه وروستو اعلان کړی و چې که د غنمو، وريژو او د الوگانو سره تازه ميوه او ترکاري وخوړل شي نو وزن کم شي.
ما همدغه " ډايټ" خپل کړو، د غوښې، هګيو، شېدو او د ماهيو خوړل په کې منع و. همدغسې چاکليټ او نور خواږه هم بند و. ما څه موده په دې عمل وکړو، وزن مې راټيټ شو خو هر وختې به په قهر وم. بيا يو ډاکټر په تلويزون کې دا بيان ورکړو چې که څوک پروټين (غوښه يا دال) و نه خوري نو د وينې د کمي سره مخ کيږي.
زما د خوراک حساب بيا پخوا په شان، بلکه نورهم خراب شو. د غوښې او د کبابو لوږه مې دومره وه چې د پخوا نه زيات به مې خوړل او دوه کاله وروستو جامې رابانديې تنگې شوې. يوه ورځ د کتابونو په دوکان کې مې يو کتاب وليدو چې د پاسه پرې ليکلي وو، " د ټول عمر لپاره وزن کم وساتئ" دا کتاب يو کس " ډاکټر اېټکېن ليکلی و. کتاب مې واخيستو، ومې لوستو او خوند يې راکړو. د اېټکن ډايټ" کمال دا و چې په دې کې نه يواځې د پروټين (غوښې) بلکه د وازدې ( کوچ او غوړ) د خوړلو هم اجازه وه.
هغه ډاکټر معلوم کړي وو چې د غوښې او د وازدې د هضمولو لپاره په وجود کې زېرمه شوي کاربوهايډرېټ سوځي او وزن پرې په خپله کم شي. زما يوه ملگرې چې ډېره چاغه وه، درې کاله وروستو مې وليده نو په دې " ډايټ" يې لس کېلو وزن ځان له کم کړې و.
هماغه وو چې سهار هگۍ، غرمه کباب او د شپې ماهيان خوړل مې پيل کړل. د غنمو ډوډۍ، وريژې، الوگان، ميوه او نور خواږه مې بند کړل. په څو ورځو کې رښتيا چې وزن مې کم شو. خوږو ته مې ډېر زړه کېدو خو هېڅ مې نشو خوړې، ان چې په دې پرهيز کې گازرې هم بندې وې. مياشت وروستو راته د کولمو درد پيدا شو او ډاکټر ته ولاړم. هغه د وينې د معايناتو راته وويل او چې نتيجه

راغله نو په وينه کې مې "کولسټرول او وازده" زيات شوي و. هغه راته د سرې غوښې د خوړلو ممانعت وکړو او زه بېرته د سابو او د ډوډۍ خوړلو ته اړ شوم.
لس کاله تېر شول نو شلمه پېړۍ واوخته او د رنگا رنگ " رژيمونو او د پرهيز" په اړه ليکنو کې زور پيدا شو. چا به وويل، روژې ونيسئ، چا د يوې اوونۍ د بند گوپي د ښوروا خوړل، بل د يوې اوونۍ د تش بادرنگ خوړل او چا خو په کې د " سورمرچکو" پرهيز په گټو کتابونه وليکل. د اروپا د طب يوې معتبرې مجلې د وزن د کمولو لپاره د دې ټولو رژيمونو په اړه منفي خبرې وليکلې. دوی د نوې څېړنې نتيجې هم خپرې کړې چې که کاربوهايډريټ (ډوډۍ) او غوښه د يو بل سره گډ ونه خوړل شي نو وزن کميږي. دوی د هاضمې د نظام سره د مطابقت خبره کوله.
ما يو څو ورځې په دې عمل وکړو، ډوډۍ به مې سپوره خوړله، غوښه به مې ځان له او ترکاري په بيل وخت کې مې خوړل. خو مياشت وروستو دا پروگرم مې هم گډوډ شو. په خپل کور کې سمه وم خو په ميلمستيا کې کله چې يوازې غوښه يا کباب مې راواخيستل نو خلکو به راته ډوډۍ او وريژې هم په زوره راکړې. ورته مې نشو ويلې چې دا به راته درې ساعته وروستو راکړئ، بيا پخوانی حال شو او اخر مې د ټولو پرهيزونو نه توبه وويستله او د " تاجبرو ترور" ډايټ يا پرهيز مې شروع کړو.
د روغتيا په يوې مجلې کې ليکلي وو چې که څوک خپل وزن کمول غواړي نو د خپلې خېټې غږ دې واوري. خپل وجود ته غوږ ونيسئ چې څه وخت له تاسو ډوډۍ غواړي. هماغه د خوراک وخت وي. دا يې هم ليکلي وي چې زمونږ په وجود کې دننه څو گړۍ (ساعتونه) شته چې په خپل وخت راته سگنل راکوي، زمونږ وجود زيات وخت اوبو ته اړتيا لري نه چې خواړو ته.
کله چې مونږ د لوږې احساس کوو نو هغه په اصل کې د تندې احساس وي او پکار ده چې سمدلاسه اوبه وڅښو. اوس زمونږ

چاپېره د خواړو دومره شیان پراته وي چې د اوبو څښلو پر ځای د چپس، چاکلېټ، بسکټ او کېک خېټې ته اچوو. دا ټول غوړ او خواږه لري چې وزن زیاتوي. د ده مشوره وه چې کله د لوږې احساس وکړئ نو لومړی اوبه وڅښئ او تر هغې چې مو اشتیها نه وي راغلې، هېڅ شی هم مه خورئ .
تاجبرو ترور کاشکه ته ژوندي وای.

۲۰۰۸ م اسلام اباد

## د وږمو بڼار

هغه له کومې ورځې چې زمونږ دفتر ته راغلې وه، د ټولو سړیو وضع هم اوختې وه. په لویه دروازه کې د ولاړ څوکېدار نه نیولې تر مشر پورې هر چا په خپلو وېښتو او جامو پام کوو. دا نه وه چې گڼي پخوا ټول بڼېرن راتلل. په یوه عامه ورځ به په لوی گېټ ولاړ جانو کاکا چې به سهار وېښته گومنز کړي و نو تر ماځیگر به یې په سر لاس نه وهلو. خو اوس لکه چې په ورځ کې لس وارې له جیبه وړه گومنزه راویستله او وېښته به یې پرې اړول.
دغه حال د دریو چپړاسیانو هم و. د "گولو" وچ کړس برېتې به غوړې وې. د مقبول ماما د پرتوگ خیرنې پایڅې اوس پاکې ښکارېدې او مستان خپله درې لویشت ږیره لنډه کړې وه. دغه حال د نورو کار کوونکو هم و. د دفتر مېزونه د وړاندې نه پاک صفا ښکارېدل.
سهار د راتگ سره به ټولو ځان په کارونو داسې بوخت کړو او په تېره بیا د " هغې" د راتگ وخت چې نژدې شو. ته به وایې ټول عمر یې چېرته وخت نه و ضایع کړی. دا " هغه" یوه بهرنۍ سپین پوستې مېرمنه وه چې د څو میاشتو لپاره زمونږ دفتر کې د یوې څېړنې لپاره ناسته وه. هغې ته زمونږ د مشر د کوټې سره جوخته وړه کوټه ورکړل شوې وه چې د شیشې دېوالونه یې لرل. د بهر نه د ټول دفتر خلکو به لیدې شوه. هغه کسان چې د کرسۍ مخ یې د دې شیشې کوټې ته مخامخ و تر ټولو خوش بخت گڼل کېده. خو نورو به هم ځان ته کله کله په خپله چانس برابر کړو. په بانه

بانه به د خپلو همکارانو مېزونو ته ودریدل او په هغې به یې نظر واچوو. د خپلو سترګو لوړه او تنده به یې د " هغې" په دیدن ماتوله. په ټول دفتر کې ۱۶ کسان کېناستل چې د شېشې کوټې نه اخوا او دېخوا په دوو برخو وېشل شوي و. د هغې نوم " جېکولین " و خو مونږ به د جېکې په نوم یادوله.
جېکې د ۳۵ او یا کېدې شوه د ۴۰ کالو مېرمنه وه او ساده جامې به یې اغوستې. زیات وخت به یې نسواري کمیس پرتوګ اغوستي و او نرۍ لوپټې یې په غاړه کې ټالۍ وهلې. خپل سره ګلګوتي وېښته به یې کله کمڅۍ کړې او کله به یې په یو پلاستیکي کلپ بند کړي و. خو یوه خبره چې د ټولو د پاره موضوع جوړوله د هغې عطر و. دا د ښار د یوې ګرانې سیمې په مېلمستون کې ایساره وه او کله کله به زمونږ د دفتر ګاډۍ به وریسي تلو. کله چې دا به د دفتر ګاډي ته راوختله نو د ګلونو وږمې به خپرې شوې. په ګاډي کې ناست ټول خلک به زما په شان نشه غوندې شول. په دفتر کې بې له دې چې مونږ له کاره سر اوچت کړی وای، پوهېدو چې جېکې کومې خوا ته ولاړه، مونږ نه پوهېدو چې دا په رښتیا د قیمتي عطر کمال و او که د هغې د وجود خوشبویي د عطر سره ګډ زمونږ د هوش نړۍ ورانوله.
مونږ پوهېدو چې دا عطر به هېڅوک زمونږ په غریب ملک کې پیدا نکړي ځکه د دفتر جینکو هم اوس د هغې په سیالۍ کې رنګا رنګ عطرونه وهل خو دوی به راته سپېرمې وسوځولې. ان تر دې چې یوه ورځ زما اندېوال، ساجد چې کله کله د ښځو سره به یې ګپ لګوو، ورته په ملنډو وویل چې د جېکې پېښې پرېږدئ او د عطرونو بوتلې مه تشوئ، د هغې عطر زمونږ په ملک کې نشته او که وي هم نو اصل به نه وي.
یوه میاشت بله هم تېره شوه او د دفتر ځینو سړو به د سیګرټ او یا د چایو لپاره په خپل بنډار کې د جېکې نه علاوه بله څه خبره نه کوله، ما ته به قهر راغی، او ورته به مې وویل، " اخر دې ښځې کې څه چل دی، که عطر ونه لګوي او څرمنه یې سپینه نه وای نو تاسو به وربانډې لیاړي هم نه توکول. ستاسو د حسن په معیار دې لعنت وي، ما ته خو دا د سړیو په شان ښکاري. ټولو وخندل خو یو تن په کې وویل، " یاره کله چې ورته ګورم او سترګې مو برابرې شي نو نړۍ موسکا وکړي. بس دا خبره مې په کې خوښه ده. زمونږه د همکارانو ښځو په تندي خو تل ۱۲ بجې وي. ټولو بیا

په زوره وخندل خو يو بل وويل، " ياره زمونږه په قسمت کې خويندې ليکلي دي، په کور کې او په دفتر کې هم. هره جينې راته وايي، وروره" په دې خبره خو ما هم ډېر وخندل او دا حقيقت و چې د دفتر ټولې جينکۍ به همکارانو ته د "ورور" خطاب کوه.
د جېکې کار خلاص شو او يوه ورځ راته مشر د دفتر په عمومي غونډه کې خبر راکړو چې د هغې لپاره يوه مېلمستيا جوړيږي، مونږ ټولو پېسې راټولې کړې او د وطن يو سوغات مو ورته واخيستو. مېلمستيا د غرمې نه وروسته په دفتر کې وه، د چايو او تقريرونو په بدرګه مو ورته خدای په امان وويل او خپلو کورونو ته روان شو. په بله ورځ دا هوايي مېدان ته روانه وه او مشر ما ته دا دنده را وسپارله چې د جېکې سره تر مېدانه ولاړ شم ځکه د دفتر ګاډی يې د ټرمينل دننه نه پرېښودو او د هغې بکس درونډ و.
زه تر هغه ځايه چې د مساپرو سره مله يې پرېښودل، جيکې سره ولاړم او د خلکوپه يو قطار کې ودرېدو. د هغې سامان مې په يوه ټرالي ( ګاډي) کې اېښې او انتظار مو کوو. جيکې راسره خبرې پيل کړې چې څومره ښې خاطرې يې له ځانه سره وړلې، زما په خوله هغه پوښتنه اوس هم نه راتله چې د تېرو څو مياشتو راهېسې مې په زړه کې غوټه وه، اوس خدای موقع راکړې وه چې د هغې د عطر نوم معلوم کړم. زړه مې کلک کړو، اجازه مې ترې واخيسته چې زه يوه پوښتنه لرم، هغې ډېر په شوق راته وکتل او ويې وويل، " څه پوښتنه لرې؟ ما د زړه خبره ورته وکړه نو دې په زوره وخندل او بيا د خپل غاړې بېګ يې وپلټولو.
يو وړوکی د شېشې بوتل يې راوويستو او راته يې ښکاره کړو. "دا مې د پېښور د عطر خرڅوونکو بازار نه اخيستې و. د اصل ياسمين د ګلونو دي او څو بوتلې مې نور هم له ځانه سره اخستې دي چې خپلوانو ته يې ډالۍ کړم. بيا يې په شوخو سترګو راته وکتل " دا پوښتنه رانه پرون د دفتر څو جينکو هم کړې وه او هغوی ته مې هم د عطر فروش دوکان په نښه کړی و، خو ښايي هغوی زما په خبره باور ونکړو.

۲۰۰۷ م پېښور

## ميراث خور

د خبرونو کتلو لپاره تلویزون ته ناست وم چې دا خبر مې واورېدو. " د مصر د شرم الشېخ نه د سورلیو الوتکه په سمندر کې لویدلې ده او د مړو ژوندو درک یې نشته." د خبر نور تفصیل رانه پاتې و او زه په ټیلیفون لکه د لېونو اخته شوم. برکت الله زما د تره زوی بېګا راسره خبرې کولې او راته یې ویلي و چې دی د خپلې مېرمنې شمیم سره شرم الشېخ کې دی.
برکت الله اوس اوس واده کړی و او د ښځې سره هنې مون لپاره مصر ته تللی و. دوی په دوو ورځو کې بېرته راتلونکي و. د موبایل هغه نمبر چې برکت الله سره و، اوس بند و او زه نه وم خبر چې دی به چېرته وي. اخر د هوایي لیکې دفتر ته مې ټیلیفون وکړو. هغوی رانه زما نمبر واخیستو او ویې ویل چې خبر به راکړي. زه بیا تلویزون ته کېناستم خو هلته په پرده مې د برکت الله د ژوند فلم لیدو.
دی زما نه یو کال کشر او د نهو کالو و چې پلار یې مړ شوی و. زما هم دغه یو تره و او د ده د مړینې نه وروستو د برکت الله موراو زما مور دومره جنګونه وکړل چې د شریکې په کور کې مو دېوال ودروه. څو وارې روغه هم وشوه خو د تره ښځه او مور مې لکه چاړه او غوښه وې.
د غم ښادۍ نه علاوه د دوی نور تګ راتګ نه کېدو خو زه او برکت د ماشوم والي نه ملګري و او د مېندو نه په پټه مو یو بل سره لیدل کتل. زما درې مشران ورونړه هم و خو دی مې د خپل ورور په شان ګڼلو. بیا زما پلار چې مړ شو نو په زمکو دعوه پیل شوه. د تره ښځې مې خپله برخه بېله کړه او د یو څه وخت لپاره په ارام شوه. زما ورونړو په کاروبار کې ډېرې پېسې وبایللې او د کورنۍ پېټې زما په اوږه شو.
برکت سبق ویلی و او په کراچۍ کې د یوې لویې کمپنۍ سره یې کار کوو. همدلته یې یوه جینۍ خوښه شوه او د مور د خوښې خلاف یې واده کړه.
زه تر ناوخته د هوایي لیکې د ټیلیفون په انتظار وم خو دوی بوخت وو. ما سهار د دې دفتر ته مخه کړه او هلته مې یو کس پیدا کړو چې راته د مسافرو نومونه یې ښکاره کړل. د الوتکې ټولې سورلۍ په سمندر کې لاهو شوي وې او د برکت او د شمیم نومونه هم په لیسټ کې لیکلي و.
د برکت د مور د برخې زمکه او کور هر څه په ځای و. د ده زمکه نه وه خرڅه شوې او مور یې هر څه د ده په نوم کړي و. هغه اوس د شریکې

کور نه تللي او په يوه بنګله کې اوسېدله. دوه لوڼه يې واده کړې و او ما به تل دا سوچ کوو چې برکت مړ شي نو د ده زمکه به چا ته رسېږي؟
۲۰۰۶ م لندن

## ګیلې مانې

سکينه په تېرو دريو کالو کې دومره وکړېده چې د ۳۰ کالو په عمر کې يې ټول سر سپين شو او په تندي يې دومره ګونځې جوړې شوې چې سمه د ۶۰ کالو ښکارېده. د کونډتون شپې يې د مور پلار کره سبا کولې. يو ورور يې واده او ځان له بېل اوسېدو، بل يې په بهر ملک کې او کله کله په ټيليفون به يې حال اخيستو.
د سکينې يوازينۍ ملګرتيا د خپلې کشرې خور شکيلې سره وه. شکيله واده او په خپل کور کې يې خوشاله ژوند کوو. د دوی دواړو په عمر کې د يو کال فرق و. دواړو د ماشومتوب او د پيغلتوب کلونه يو بل ته خپل د زړه حال په ويلو تېر کړي و او اوس د يو بل په خبره پوهېدې، هغه خبرې چې سکينې مور ته نشوې کولې، خور سره به يې شريکولې.
خو اوس دا يو کال کېدو چې سکينې داسې احساس کوو چې د شکيلې خبرې بدلې شوې وې. هغې ته به په کې د طنز لشه احساسېده، داسې لکه چې خور ورباندې ملنډې وهي. سکينه حېرانه وه چې په خور کې يې دا بدلون څنګه راغلی و او کله به يې ځان سره چرت وهلو چې کېدېشي هغه په خپله بدله شوې وي، شکيله هماغسې ده.
خو نن بيا داسې شوی و چې سکينه پرې وزورېده. هغې خپلې خور ته د عدالت (محکمې) ليک ورښکاره کړو چې د دې د دعوې په ځواب کې ورته هم نن رارسيدلی و. په دې کې ليکلي و چې دا د خپل خسر په کور کې حق نه لري ځکه د هغې خاوند په خپل ژوند، خپله برخه د ورور په نوم کړې وه.
سکينه د دی ليک په تر لاسه کولو ډېره خفه وه، د خپل خاوند نه يې ګيله راتله چې څنګه د خپلو اولادونو حق يې ورور ته ورکړی و. د سکينې سپين ږيري پلار ډېر ضعيف و. مور يې د کلي ساده ښځه وه، په ليک لوست او تاڼه تحصيل نه وه خبره خو لور يې زهېره وليده نو څو شپې د سکينې خواښې خسر او د دی مړ خاوند يې په ښيرو ولمانځل. سکينې غوښتل چې خور ورله تسلي ورکړي، يو څه لاره ورته وښايي چې اوس به

څه کوي، د خپلو اولادونو حق به څنګه اخلي، خو شکیلې لیک ولوستو، هېڅ یې ونه ویل.
سکینې ورته خپل زړه تش کړو، دا یې هم وویل چې د هغې سپما شوي پېسې په ختمېدو دي. په کوم ښوونځي کې چې دې کار کوو هغوی ورله لږه تنخواه ورکوله او د ماشومانو د تعلیم لګښت یې مخ په زیاتېدو و. هغه راتلونکې ته اندېښمنه وه، که مور او پلار یې نه و، یا دا په خپله نه وه نو اولادونه به یې څه کوي. نور کله به شکیلې ورته تسلي ورکړه خو نن د هغې په سترګو کې هېڅ احساس نه ښکارېدو. لکه د بوت ناسته وه ، بیا یې سوړ اسویلی وکړو او ویې ویل، " داسې ښکاري چې خدای درنه ناراضه دی" د سکینې حوصله ماته شوه او په لومړي ځل یې د یواځیتوب احساس وکړو. " ښه، نو ما څه کړي دي چې خدای رانه ناراضه دی؟" شکیلې ورته هېڅ ځواب ورنکړو. شېبه غلې وه، بیا یې وویل، " خدای دی دربانديې ورحمېږي"
د شپې سکینې په خپل کټ اړخونه بدلول او بیا بیا یې دا خبره یادوله چې " خدای دربانديې ورحمېږي" هغې خپله محاسبه پیل کړه. د ځوانۍ وختونه یې را په زړه شول. هغې چرې سینما نه وه لیدلې، بازار ته به هم نه ورتله. ښې جامې به یې په اخترونو کې اغوستې. په ودونو ښادیو کې یې چرې نڅا نه وه کړې، سندرې یې نه وې ویلې. په مخ یې کریم هم نه وهلو. مور پلار ورته د واده وویل نو د هغوی خوښی ته یې سر ټیټ کړو. له واده وروسته، خواښې سره یې ژبه نه وه کړې. ایندرور یو ځلې د چیني لوښو په ماتولو ورته ډېرې وېناوې وکړې نو هغې په خپل دفاع کې ورته څو خبرې اورولې وې، وروستو د دوی تر منځ روغه وشوه.
د سکینې لومړۍ لور په زېږېدو هغې څومره پیغورونه اوریدلي و. د دوېم لور نه وروستو، د هغې خواښې او خسر ورسره څو ورځې خبرې نه کولې. بیا ایندرور یې په کلي کې ګرځېده چې ورور ته بله ښځه وکړي، ځکه د دوی زامن پکار و، سکینې دا هر څه په صبر زغملي و. خو یوه ورځ د میړه په سینه کې یې درد راپورته شو او تر څو چې یې روغتون ته رسوو، ده ساه ورکړې وه. ډاکټرانو ویل چې د هغه د زړه دوه رګونه بند شوي و او وینه ورته نه وه رسیدلې، ځکه خو یې ټول وجود شین و . خو د سکینې خواښې او ایندرور هر ځای هم دا ویل چې هغه ته چا زهر ورکړي

و.  په کومه ورځ چې دا د خسر له کوره وشړل شوه، په هغې ورځ هم دې له خدایه ګیله نه وه کړې نو اوس ترې خدای ولې ناراضه و؟
نیمه شپه تېره وه چې سکینه له کټه راپاڅېده، د هغې په سردرد و، خوب نه ورتلو او سهار دا ښوونځي ته تله.  د خپلو لوڼو کټونو ته یې وکتل او ویې ویل، " دوی به هم زما په شان د کړاوونو ډک ژوند تېروي"  دې ته د اخبار هغه خبر رایاد شو چې یوې مور خپل ماشومان وژلي و. " ښایي زما په شان به څوک بدبخته وي" هغې سوچ وکړو.  خو اوس د خپلې بدبختۍ نه زیات هغه د خپلې خور چلن ته حېرانه وه. " شکیله خو زما زړه ته رانژدې، زما خپله وینه ده . د ژوند په ښو شېبو کې مو څومره خندلي و، هغه ټوکې، ملنډې، د یو بل په درد پوهېدل، یو بل ته تسلي ورکول، هغه ټول څه شول؟ " سوچ یې کوو، " سبا به ورکره ځم او پوښتنه به ترې وکړم چې دا ولې داسې بدله شوې ده؟"
سبا سکینه د ژوند په کارونو بوخته شوه، په ټیلیفون به یې د خور سره اوپره خبرې وشوې، د یو بل حال به یې وپوښتلو، داسې لکه چې جبر وي.
میاشت وروسته د شکیلې د زوی سالګره وه، سکینې ورله یوه معمولي تحفه یوړه.  ماشومانو د نورکله په شان په ګډه چای وڅښلې، کېک اوبسکټ وخوړل او په لوبو اخته شو.  سکینه او شکیله خبرو ته کېناستې. سکینې ورته د عدالت د نوټس په څواب کې د خپل اپیل خبره وکړه.  شکیلې یو سوړاسویلی وکړو نو خور ته یې پخوانۍ خبره رایاده شوه.  هغې نه یې پوښتنه وکړه، " د دی اسویلي څه مطلب دی؟" شکیلې په ټکان خوړلي غږ وویل، " دا فریاد مې ستا له خولې څو وارې اوریدلی دی"  سکېنی ورته لږ په لوړغږ وویل، " ته خبره یې چې ستا په خبرو کې اوس یو زهر ګډ وي؟ ته څنګ زنې خبرې کوې"  شکیلې د مکرخندا وکړه، " دا ته څه وایې؟" زه به ولې تا ته څنګ زنې خبرې کوم، ما خو تل همدغسې خبرې کولې، زه خو همداسې یم"
سکینه یو شېبه غلې وه خو بیا ورو ورو یې ورته خپل زړه وسپړو.  شکیله په خپله دفاع کې لګیا شوه اوخبرې تودې شوې.  اخر دواړه ستړې شوې او یوه شېبه خاموشي شوه، سکینې وویل، " شکیلې، ستا څه خیال دی ، چې زما ژوند ولې داسې دی؟ خدای ولې ما نه ناراضه دی؟" شکیلې سره هېڅ ځواب نه و، رډ رډ یې خور ته کتل." وواېه کنه، ته خو ډېره پوهه یې، ستا په ژوند کې چې څه دي، هغه ولې ما سره نشته؟" شکیلې ورته هېڅ ځواب

ورنګړو." وو ایه کنه، خورې، ما کومه ګناه کړې ده، چې تا نه ده کړې؟
مونږ دواړه  په یو کور کې لوی شوي و، زمونږ په اخلاقو کې هېڅ فرق
نشته، هغومره چې ته لمونځ ګوزاره یې، زه هم یم، نو بیا ولې؟ "
شکیلې ترې مخ واړوو او ویي ویل ، " زه په دې خبره نه پوهېږم"
سکینه په قهر شوه، " نو بیا ولې وایي چې " خدای له ما ناراضه دی؟"
شکیله پاڅېده، د چایو لوښي یې راټول کړل او د پخلنځي په لوري ولاړه.  د
هغې د سترګو ډنډ سکینې ونه لیدو.  شکیلې د لوښو پټنوس کېښودو او ځان
سره یې سوچ کوو، " سکینه څومره بدله شوې ده ، د خاوند مرګ داسی
کړه چې اوس په معمولي خبرو خفه شي، زه چې هر څومره احتیاط کوم، دا
زما یوه خبره ونیسي او پرې خفه شي" بیا یې یو سوړ اسویلی وکړو او د
شونډو لاندې یې وویل، " خدایه، ته پرې ورحمېږې"

۲۰۰۵ م پېښور

## کړه خله

د هغې وروستۍ خبرې په ما اوربل کړو.  یوه څپېړه مې د دې سپین مخ ته
راخلاصه کړه او ترڅو چې پوهېده، په فرش پرته وه.  هغې د خپل لوڅ
وجود د پټولو لپاره لاس وغځوو خو ما په فرش د هغې دانه وانه جامې او
بوټان راټول کړل او د اپارټمنټ په راهدارۍ کې مې ورته وغورځول.  دا
راته په ښکنځلو سر شوه.  ما ژر ژر د خپل خوب چپنه په ځان راتاو کړه،
دا مې د لاس نه ونیوله او هماغسې د جامو پسې مې بهر ورټېله کړه.
دروازه مې په زوره بنده کړه نو د دې سلګۍ مې اورېدې.
زما  اور لږ سوړ شو او پښېمانه شوم  خو هغې د دروازې نه بهر خپله
وروستۍ خبره بیا په زوره وکړه نو  هغه  قهر مې بیا راتازه شو.  ورپسې
بهر ولاړم، له ویښتو مې ونیوله او د دېوال سره مې  یوه زوروره ډغره
ورله ورکړه.  دې چیغې کړې او زه لږ ووېرېدم چې هسې نه د نورو
اپارټمنټونو نه څوک راووځي.  خو په دې وطن کې ښه والی دا دی چې
څوک دربانډي غرض نه لري.  زیات نه زیات یو څوک پولیسو ته ټیلیفون
وکړي، دا ښځه ما پخوا هم وهلې وه خو هېڅ نه و شوي.
په لومړي ځل مې په دې وهلې وه چې زه په کور کې نه وم او دې زما یو
ملګري ته دروازه خلاصه کړې وه.  دا څه دومره لویه خبره نه وه خو زه

په دې وشرمېدم چې هغه وخت دې ښځې د خوب کالي اغوستي و او زه په غسل خانه کې وم. بیا مې دوه درې وارې په دی څپېړه ورکړې وه چې ما سره به یې ژبه کوله.
خو د تېرو شپږو میاشتو نه یې نازوم، چکر ورکوم، فلمونه پرې گورم، رستورانت ته یې بیایم. یو ځل مې ورته ښکلې جامې او بوټان واخیستل، هالیډې (چکر) ته مې هم بوتله، نوره د خره لور څه غواړي؟
نن سم دم د کار نه راغلم، سمه دمه ډوډۍ مې وخوړه، سم دم عشق مې ورسره وکړو، چې ناڅاپه یې وویل ، " واده راسره وکړه" ما ویل، دا ناشونې ده، ما ته مور په وطن کې کوژده کړې ده، خو د دې هماغه یوه خبره وه، چې ته راسره مینه کوې نو راځه چې یو ځای کور جوړ کړو.
هغه خو لا څه کوې، راته یې وویل، ماشوم غواړم! ما ورته وخندل او خبره د خندا هم ده. "هلکه ته د دې ځای ښځه وگوره او ماشوم راوړل وگوره. سبا له به یې د ساتلو نه وې، بل سړي سره به تښتېدلې وي او زه به ورته ماشوم لویوم."
اخر یې چې راته ډېر غوړونه وخوړل نو خبرداری یې راکړو چې "زه به دې پرېږدم". ما ویل ، زه نو ولاړه شه، زه خو هسې هم واده درسره نه کوم، د وطن نه به ښځه راولم، ستا اړتیا راته اوس نشته. بس په دې خبره په کټ کې کېناسته او بدې ردې یې راته وویلې. زه د دې د ښکنځلو سره اوس عادت شوی یم، ښه د زړه براس یې وویستو نو ما غوښتل چې مچ یې کړم.
خو د دې وروستۍ خبرې راباندې اوربل کړو. راته یې وویل، " تاسو پښتانه ځومره خود غرضه یئ. په ښځو ظلم کوئ." بس وروره دا خبره نه وه لکه د توپک ډز و چې په ما یې وکړو. دا د دوو پیسو ښځه چې لس یاران یې بدل کړي دي، څنگه زما قوم ته ښکنځل کوي؟ هرڅوک چې زما قوم ته څه ووایي، زه به ترې سترگې وباسم، ژبه به ترې پرېکړم، دا بدبخته خو مې تش په وهلو پرېښوده، هغه زمونږ مشران څه ښه وایي چې کږه خوله په سوک سمېږي.
۲۰۰۴ م کابل

## انځورگره

فوزیه ډېره ناهیلې وه...د خپل کور نه...ماشومانو نه او د خپل ماشیني ژوند نه چې نه یې څرخوونکی او نه چلوونکی لیدلی شو. د ځان په شان

نورو ښځو نه یې پوښتنې کولې او ټولو ورته ویل چې د کور د ښځو ژوند همداسې وي. د هغې لپاره دا د منلو نه و چې د سهار نه تر ماښامه دې یوه ښځه د څلورو کسانو نوکري وکړي.
نه پوهېده چې نعیم څه وختې چای وڅښلې، ځان یې تیار کړو او کور نه ووتلو. دوه زامن به یې سکول ښوونځې ته ورواستول نو دا به د ماشومې عذرا سره یوازې پاتې شوه. زړه به یې و چې یو انځور جوړ کړي، دا ښه انځورگره وه. د کالج د سبق په وخت د دې د انځورونو ننداړتون جوړ شوی و او یوه لویه د غرونو منظره خو اوس د ښار په یو بینک کې ځوړنده وه. خو اوس ترېنه برش او رنگونه پاتې و.
هغې به خیرنې جامې راټولې کړې، ماشین به یې ډک کړو، ماشومه به یې مړه او ویده کړه او د پخلي غم به یې وکړو. د نورو ښځو نه به یې وپوښتل چې هغوی په کورونو کې څه کول نو هماغه کارونه به یې ورته یادول چې د دې په غاړه و. یو څو ملگرو ته یې وویل، " راځئ یوه ټولنه جوړه کړو، خپل کورمالت لپاره هم څه وکړو. ځان له خو هر څوک ژوند کوي." هغوی به ورپورې وخندل، " دا "مدرټریسا" راکې د کومه پیدا شوه؟ " بلې به ویل، " هغه چې لوی کارونه کوي، زمونږ په شان نه وي" فوزیه به نوره هم ناهیلې شوه.
بیا د دې د زړه غږ د ژوند د ژرندې په شور کې ورک شو او کلونه واوړېدل. هغې په خپله هم دا غږ نه اورېدو او حالاتو ته یې سر ټیټ کړو. ماشومانو ته به یې کتل چې په سبق کې تکړه وو نو لږ به یې زړه ډاډه شو چې هغې قرباني ورکړې وه. د دې لورعذرا د مور په شان انځورونه نشو جوړولی نو فوزیې به ورته هغه کارونه سر ته رسول، د جغرافیې نقشې، د حساب گرافونه، د ژوو او د ځناورو انځورونه جوړول د دې لپاره یو څه خونده ور وو او لور ته به یې خپلې استادې شاباش وویل نو خوشاله به کور ته راغله.
د ژرندې پل نور هم وڅرخېدو او دواړه زامن یې کارونو لپاره بهر ملکونو ته ولاړل نو هغې د عذرا د واده لپاره خوبونه لیدل، د هغې د امتحانونو نه وروستو په کالج کې لویه مېله جوړه شوه. درې ورځې رنگا رنگ مقابلې، ډرامې او نور پروگرامونه و او د وروستۍ ورځې په میلمستیا کې د ټولو جینکو مېندې هم مېلمنې وې.

فوزيې ورته تياري وکړه، نوې جامې يې جوړې کړې او د مېلمستيا نه يوه ورځ وړاندې يې لور ته ښکاره کړې، " ته وګوره عذرا دا جامې راسره ښنګه ښکارې؟" هغه موسکۍ شوه او مور ته يې وويل، " دا رنګ درسره نه ښايي" فوزيه حيرانه شوه، " دا خو ډېر ښه رنګ دی، زما د واده يوه جوړه داسې وه او ستا د پلار به ډېره خوښه وه." خو عذرا يوې خوا ته ځېټ کوږ کړو او ويې ويل، " مورې... که ته پارټۍ ته ولاړه نشې نو څه به وشي؟"
د فوزيې زړه درز وکړو، " ولې څه خبره شوې ده؟ چا درته څه ويلي دي؟" لور يې غلې وه، بيا زړه نا زړه لګيا شوه " زه...زه...نه غواړم چې تا څوک ويني" فوزيه په خندا شوه، " ولې مخ مې دومره بدرنګ دی؟ غټه خو هم نه يم، بس لږه خېټه مې راوتلې ده، خو ټولې ميندې همدغسې وي او که..." لور يې د هغې خبره پرېکړه، " دا خبره نه ده..."
فوزيې په سخته لهجه ورته وويل، " نو بيا څه شوي دي، صفا خبره وکړه" عذرا د صوفې يوه ګدۍ را واخيسته او لاسونه يې ترې تاو کړل، بيا يې نيم مخ د ګدۍ شا ته پټ کړو، " زما د ټولو ملګرو مېندې کارونه کوي.
څوک ډاکټره ده، څوک استاده، څوک اين-جي-او کې ده. زه به ستا په باره کې دوی ته څه وايم چې زما مور څه کوي؟ بس ته خو تصوير ښه جوړولی شې او د رنګونو نه خبره يې."
بيا يې ګدۍ يوې خوا ته وغورځوله او د کوټې نه په وتلو کې يې وويل، " مورې تا خو هېڅ نه دي کړي، بس بيکاره ژوند دې تېر کړو."
د فوزيې پښې وربړدېدې، سخت د سټړيا احساس يې وکړو داسې لکه چې د ۲۰کالو نه يې د الوت هڅه کوله او نن د اسمان او د زمکې تر منځ چا ترېنه وزرې پرېکړې وې.

اپرېل ۲۰۰۱۲ م پېښور

## سوړ جنګ

د يو اوږد سفر نه وروستو خپل کور ته چې راغلم نو په فرش د ديوالونو سره د بادامي رنګ وړې وړې ګولۍ مې وليدې. د هرې کوټې په ګوټونو

کې په وړو وړو شنو پلاسټيکي کاسو کې ايښې دا ګولۍ زه ډېرې ښې پيژنم
چې د موږکانو د وژلو لپاره و.
د سړي نه مې پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟ ويل يې "هسې د شپې مې يو
سيوری غوندې وليدو چې زما د کتابونو شيلف نه راښکاره شو خو نور مې
هېڅ نه دي ليدلي . نه مې د موږکانو توره مرداري ليدلې، نه يې کاغذ
خوړلی دی او نه چرته کړپ کړوپ اورم. ما د احتياط لپاره داګولۍ
راوړي دي." خو زما پوښتنې زياتې شوې "د څه شي سيوری و؟ مږه وه که
موږک؟ بل څه بلا نه وي! څو ورځې يې کيږي؟ مېړه رانه مخ واړوو چې
"بس، بس وارخطا کيږه مه، هر څه چې وي پته به يې ولګي.
د تېرو څو کلو راهيسې زه هره اوونۍ کورد بېخ نه پاکوم، ماشومانو ته د
خوراک شيان خوب کوټې ته د اوړلو اجازه نشته. هم د دې لپاره...خير
اوس به ګورو. راتلونکې څو ورځې راته ډېرې سختې وې، هر شی راته
مردار ښکارېدو.
ټولې الماری مې چپه کړې او په جوش د کور صفايي پيل شوه. پردې
وينځل شوې، د کټ څادرونه، قالين، ګدۍ او داسې نور هر څه مې بهر په
چمن کې لمر ته کېښودل. کرسۍ ميزونه د يو نه بل ځای ته مو بدل کړل.
په هرګوټ کې مو د صفايي داروګان وشېندل او د څو ورځو د سختې پاک
کارۍ نه وروسته مې تسلي وشوه چې موږکان نشته نوهغه ګولۍ مو راټولې
کړې.
يوه شپه زه د تلويزون مخې ته ناسته وم. د چايو پياله مې په لاس کې او د
خپلې خوښې بسکټ راته مخامخ په ميز ايښي وو. د ماشومانو په کوټه کې
رڼاګانې بندې وې اوهرې خوا ته چپه چپتيا وه. ما د تلويزون غږ ټيټ
کړی و چې نا ببره مې د کوټې دروازې ته پام شو. يو وړوکی موږک ورو
ورو د دروازې د شانه نه راښکاره شو او هماغسې په خاموشۍ د خوب
کوټې ته يې منډه کړه. دا هرڅه د دوو ثانيو لپاره مې وليدل، غوني مې
زيږ شول، چای، ببسکټ او تلويزون رانه پاتې شول، په يوه چيغه مې ټول
را پاڅول او د موږک حال مې ورته تېر کړو.
سړي راته وويل، " بس اوس به يې راګير کړو، دی ولاړو، اوږده جارو
يې را واخيسته، ما زړه توليه تاو راتاو کړه او د دروازې سوړه مې بنده
کړه. د پلاسټيکي بيلچې او ټوکرۍ انتظام مو هم وکړو چې په دې لاره به
يې ژوندی نيسو. راتلونکی يو ساعت مو د موږک پسې د کوټې هر ګوټ

ولټوو. الماری، کټ، د جامو صندوق او ټوله کوټه داسې شوه لکه چې غله په کې ګرځېدلي وي، خو موږک څه چې د هغه سیوری هم نه و.
د تروریزم په ضد زمونږ جګړه پای ته ورسېده خو زمونږ لاس ته هېڅ را نه غلل. پاتې دوه ساعته مو د کوټې شیان ځای په ځای کول. په بله ورځ سړی مې ولاړو، ښې ډېرې د موږک وژونکې ګولۍ یې راوړې. ما ورته وویل په دې هېڅ نه کېږي خو هغه ورسره درې کوړکۍ (لومې) هم راوړې. دا د موږکانو د نیولو هغه اوسپنیزې کوړکۍ نه وې چې په وطن کې یې کاروي، بلکه د شین پلاستیک نه جوړې وړې لومې وې.
ما سړي ته وویل، "په دې کې پنیر یا غوښه کېږده" زوی راته وویل، چاکلیټ او بسکټ پکاردي، ما په انټرنیټ کې معلومات کړي دي، که " یوموږک ووینئ نو پوه شئ چې پوره ټبر ورسره دی. کېدی شي درې وي، کېدی شي څلور یا پنځه، مانا دا چې په ډله کې ګرځي، د دوی چاکلیټ خوښېږي، د لمر خاته او ډوبېدوپه وخت د خپلوسوړو نه راوځي." د ده بیان خلاص شو نو ټول غلي و.
زما لپاره دا معلومات نوي وو. کېدی شي اروپایي موږکان زمونږ د موږکانو نه بېل طبیعت اوبېل کلچر ولري. داسې امکان شته چې د دې ملکونو ټول ژوي بل شان او هوښیار وي. تراوسه د کاغذ یا د ټوکر د خوړلو ثبوت مې نه وو موندلی. څومره ماړه دي! پنیرهم نه خوري. اخر زوی ته مې پیسې ورکړې چې ارزان بیه چاکلیټ راوړي، زوی چې مې راغلو نو په خپله یې د چاکلیټو په خوراک پیل کړي و. څه چې ترینه پاتې و هغه یې په لومه کې کېښودل چې د خوب د کوټې دروازې تر شا یې ورته بنده کړه. درې نورې کوړکۍ مو په بېلا بېلو ځایونو کې ورته کېښودلې.
نیمه شپه نابېره کړپ وشو، یو ډېر نازک او مهین غږ مو واورېدو. رڼا بله شوه نو د دروازې شا ته په لومه کې موږک بند و. ما سترګې پټې کړې او ځان مې پرې ناغرضه کړو. سړي مې په لاس پلاستیکي کڅوړه وخیجوله، بیا یې مړی د لومې سره په یو ډبې کې بند کړو او بهر یې یوړو.
په بله ورځ خبره شوم چې دا یې سیزلې وه ، ځکه دا هم په انټرنیټ کې لیکلي وو. زمونږ زړه ډاډه شو چې دا هماغه موږک و چې ما لیدلی و. خو لومې مو لیرې نه کړې. که د ده ټبرهم راغلی وي نو دوی به لا پاتې وي.
په بله شپه زه په پخلنځي کې وم، په میز مې سابه د پاکولو لپاره ایښي و. میلمانه راتلل او ما غوښتل چې نیم کارونه د شپې خلاص کړم. په کور کې

خاموشي وه او نابېره يو موږک مې وليدو چې د پخلنځي د الماری د لاندې ورو غوندې ولاړو، سړي ته مې چيغه کړه چې هله شابه راځغله.
هغه زرلومه راواخيسته او کوم ځای نه چې مې موږک په راوتلو کې ليدلی و، هماغلته يې کېښوده. ما ورته وويل "هغه خو بل خوا ته ولاړو!" ده وويل،" موږک چې په کومه لاره ځي، بېرته په هماغه راځي، دامې "..." په انټرنيټ کې لوستي دي" ما د هغه جمله پوره کړه. نه مې غوښتل چې ميلمانه دا لومې وګوري . دوی به څه وايي. کېدېشي بيا چرې زما کورته رانشي، زما ډوډۍ به نه خوري. بس يو وهم راته ولوېدو. سړي ته مې وويل که سحر په دې لومه کې څه و او که نه و، د مخې نه يې ليرې کړه.
په بل سحر چې پخلنځي ته راغلو نو يو موږک په لومه کې بند و. په دې وخت کې زما خوشالي هماغسې وه لکه چې امريکايانو د صدام حسين په نيولو ښکاره کړې وه.
د ميلمنو د راتلو نه وړاندې مو ټولې لومې او کوړکۍ ليرې کړې، ځای مو پاک صفا کړو، خو زما زړه اوس هم نا ارامه و. که نابېره د دې موږکانو يو ورور يا خور چرته راښکاره شول نو...خير ميلمانه راغلل او ولاړل. موږکانو انسانيت وکړو چې راښکاره نشول. نابېره اته کلن زوی مې د غسل خانې نه چيغې کړې. مور ... بابا ... دلته يو موږک مړ پروت دی. ټولو غسل خانې ته منډه کړه، د دروازې شا ته مې زوی بربنډ ولاړ و او په زمکه يې مړ موږک ته ګوته نيولې وه. لور مې د موږک په ځای د ورور وجود ته په چيغو شوه، " شرم شرم!" ما ورته توليه وغورځوله چې ځان پټ کړي او سړي د موږک مړی "ستي کولو" لپاره يوړو.
د شپې په ډوډۍ ټولو همدغه هڅ وهلو چې درې موږکان مړه شول اوس به څو پاتې وي؟ ما د خپلې تسلۍ لپاره ورته وويل، " دا موږکان اروپايي دي، غوښه پنير نه خوري، کرېپ کړوپ نه کوي، ښايي همدغه وړوکی ټبر و، مور، پلاراو زوی يا لور، وړه کورنۍ." کشر زوی مې د ميزشا وخوا وکتل. مونږ شپږ تنه و، هغه په ګوتو شميرل چې زما لور ورته وويل، " مونږ اروپايان نه يو. موږکان د جاني دوی په شان دي. جانی زمونږ د ګاونډي يکې يو زوی و، سخت ورانکار او زما د کشري زوی سره به يې په ورځ کې لس وارې لوبې او شل وارې جنګ کوو.
څو ورځې نورې په ارام تېرې شوې او د موږکانو موضوع سړه شوه خو لومې په خپل ځای پاتې وې. يوه شپه نابېره کړس شو او زمونږ د خوب په

کوټه کې میز ودربېدو. یو موږک په لومه کې نښتی و او د خپل ژوند
وروستۍ جنګ یې کوو. یو "چي" وشو او بیا خاموشي وه . ما دومره د
دردناک مرګ غږ چرته نه و اورېدلی چې یو ژوی ساه ورکوي او زه یې
اورم، سخته ژړا راتله. د شپې درې بجې وې، زه له خپل کټ راپاڅیدم او
د ماشومانو کوټې ته ولاړم، هلته د لور سره پرېوتم.
پاتې شپه مې بد خوبونه لیدل، کله به مې لیدل چې ټول کور د موږکانو ډک
دی او ځینې په کې الوځي، رنګارنګ موږکان دي. زیړ، سور، شین... یو
سپین موږک راوالوځي او زما په پښو کې کېني. زه پښه راوچته کړم چې
په بوټ یې مړکړم. هغه ماته بره ګوري. په سترګو یې ګلابي عینکې دي،
هماغسې لکه چې د انګلستان مشهور سندرغاړي ایلټن جان یو وخت په
سترګو کولې. خو د موږک په سترګو کې سوال هم دی چې ته ولې ما
وژنې ؟ ما څه ګناه کړې ده؟ ستا د کور ډوډۍ مې نه ده خوړلې، خپله دې
راته چاکلیټ ایښي دي، هېڅ شی مې درته نه دي خراب کړي او شور هم نه
کوم. بیا خوب بدل شو او ګورم چې زما څلورواړه اولادونه موږکان شوي
دي او زه نه پوهېږم چې څنګه یې ووژنم. خوب نه و د هالیووډ یو
بوګنوونکی فلم و.
سحر زه دومره خفه او بېزاره وم چې ټول قهر مې په ماشومانو وویستو.
هغوی نه پوهېدل چې زه ولې د موږک نه دومره کرکه لرم او پلار یې ولې
هر وختې په انټرنیټ د دوی په هکله معلومات لټوي. څو شپې نه وې
تېرې چې یو بل موږک هم زمونږ د کوټې په لومه کې بند شو.
اوس څو میاشتې تېرې شوي دي چې د ښاروالۍ کسانو زمونږ کور له
موږکانو پاک کړی او د بهرنه هغه ټولې لویې وړې سوړې یې هم بند کړي
دي چې د دوی د راتلو لارې وې. خو زه اوس هم د ناستې په کوټه کې په
صوفه نه کېنم، د چایو پیاله چې راواخلم نو د څښلو نه وړاندې د کوټې هر
ګوټ ته وګورم، لور راته وایي چې زه باید سایکالوجسټ ته ولاړه شم.
جنوري ۲۰۰۵ م لندن

## ډرایډ پلمز

د غوښې، ترکارې، وچې او لمدې مېوې هټۍ ته یوه ښځه راغله او د
انګریزي په سوچه شاهي لهجه کې یې وویل، " تاسو " ډرایډ پلمز" لرئ؟
هټیوال سترګې یوې خوا بل خوا تاوولې او ناڅاپه له خولې یې ووتل، "

واټ"( څه) ښځې خپل د سرخي لړلي شونډو په تاوولو " ډرايډ پلمز" په زوره وويل. د هټيوال ژبه بنده بنده کېده خو ځان يې ترې خلاص کړو او د دوکان په بل سر کې يو هلک ته اشاره وکړه.
هلک د ډبو نه وچه ميوه او نور توکي راويستل او د هټۍ په الماريو کې يې اوډل. ښځې په خپلو ژېړو وېښتو لاس تېر کړو، په تک سپين تندي، چې پوډر پرې تپلي و، څو ګونځې راښکاره شوې. بيا خپل ښکلي فيشني کوټ د جيب نه يې رومال راوويستو، پوزه يې پرې وسونړله او د هټۍ دننه خوا ته يې قدم واخيستو. د هغې د لوړو پوندو بوټانو " ټک ټک ټک وکړو او د هلک مخې ته ودرېده نو هغه ژر ځان بوخت کړو.
هلک د هټيوال سره څو ورځې کېدې چې کار پيل کړی و او ده ته يې داډ هم ورکړی و چې انګرېزي يې زده وه. هغه د ښځې خبره دوه وارې اورېدلې وه او ځان سره يې چرت وهلو چې " ډرايډ پلمز" به څه شی وي.
ښځې د هغه پام ځان ته د اړولو لپاره ورته " ايکسکېوز مي" وويل نو هلک ورته مخ واړوو او داسې يې وښودله لکه چې ډېر زيات بوخت و او اوس په لومړي ځل د ښځې خبره اوري. ښځې ورته بيا هماغه خبره وکړه چې " ډرايډ پلمز" لرئ؟ هلک ځان اماده کړی و ځکه هغه د "ډرايډ" په مانا پوهېدو چې "اوچ" ته وايي.
هغه وخت هټيوال هلک ته کتل چې دی څه کوي، نن د هغه د انګرېزي ژبې ازموينه وه او غوښتل يې چې په خپله وګوري چې ښځې ته هغه نامعلومه شی پيدا کولی شي که نه؟ په تېرو څو کلونو کې د هغه سره څو کسانو کار کړی و خو دی ترې خوشاله نه و. د هټيوال خپله هم انګرېزي کمزورې وه او کله نا کله به داسې څوک ورپېښ شول چې د هغه په خبره دی بيخي نه پوهېدو.
هلک هم د سترګو له کونج نه کتل چې بادار ورته ځير دی. هغه په " ډرايډ" زور راوړو، داسې لکه چې په خبره پوه شوی و او ښځې نه يې پخلی غوښتو. خو ده وخت اړوو چې بل څوک راشي او د هټيوال پام هغه ته شي. ښځې ته يې ځان داسې ښکاره کوو لکه چې په " ډرايډ پلمز " پوه شو، سر يې وخوځوو او په ډېر باور وويل، " يس"
د هټۍ په بل سر کې اوچ شيان ايښي و او دی ولاړو هلته ودرېدو. بيا هر ډبې او خلتې ته داسې ځير شو لکه چې ورباندې ليکلې ژبه يې لوستلې شوه.

هغه وخت په هټۍ کې د نورو مشتریانو ګڼه ګوڼه شوه او د هټیوال پام بلې خوا ته شو. هلک اوس هم کله د الماری توکو او کله هغې مېرمنې ته کتل چې په خپله هم یو یو شي ته ځیر وه. په دې کې د هغې موبایل ټیلیفون کړنګ کړنګ وکړو او ښځې ټیلیفون د بټوې نه راوویستو. په دې د غمو ډک پوښ ختلی و او د یو نازک زنځیر سره وړې وړې مرۍ ځنګېدې.
هغې په بل سر کې چا ته "بلې" وویل نو هلک یوه اوږده ساه راښکله.
ښځه افغانه وه او چټې یې دوی نه په انګرېزي کې هغه شی غوښتو.
ښځې خبرې خلاصې کړې او ټیلیفون یې ډېر په احتیاط بټوې کې کېښودو چې مصنوعي نوکان یې خراب نشي، هلک ته یې وکتل نو هغه ترېنه په ورو غږ دري کې وپوښتل، " خانم ډرایډ پلمز چیست؟"
ښځې اوس په سوچه ایراني پارسي کې وویل،" آلو بخارا" د هلک په اننګو الوتې رنګ بېرته راغلو او په شونډو کې ورو غوندې یې وویل، " بلې بلې"
د الماری د سر نه یې د الوبخارا پلاسټیکي پېکټ راواخیستو او د ښځې په لاس یې ورکړو. ښځې نور څه وانخیستل، د الوبخارا پیسې یې ورکړې او له دوکانه ووتله.
هټیوال چې اوزګار شو نو د هلک نه یې پوښتنه وکړه، " نذیر جانه ...هغې ښځې څه ویل؟ الو بخارا یې په کوم نوم یادوله؟" هلک اوږې پورته وغورځولې او ویې ویل، " ډرایډ پلمز" یې غوښتل... پلمز په انګلش کې الو یا الوچې ته وایي."
هټیوال ورته ځیر شو او بیا یې وویل، نذیر جانه ...ستا په شان د استعداد خلک باید په یو دفتر کې کار وکړي. دا هټۍ خو زمونږ خلکو لپاره وي.
۲۰۱۲ م لندن

## کورګې

د دوو کوټو دې وړوکي کور په جوړولو کې ما خپلې ټولې سپما کړې پیسې خرڅې کړې او دوه لکه روپۍ مې پور هم اخیستی و.

په کور کې واړه واړه کارونه لا پاتې و خو نور مې د کرايي ورکولو توان نه و، زه او مېرمنه مې د ماشومې لور شيرين سره ورته کډه شو. د کورغولی ښه پراخه و خو د پخلنځي سره جوخته يوه وړه کوټه لا نيمګړی پاتې وه او څه پلان مو ورته نه و جوړکړې. د دې درې دېوالونه و او يوه خوا يې برنډې ته خلاصه وه، د کړکی پر ځای په کې د لرګي تخته لګيدلې وه.

مېرمنې مې ګودام غوښتو چې ما پرې کرښه راښکله څکه مونږ سره دومره سامان نه و چې دا کوټه مو ضايع کړې وې. ما غوښتل چې يوه وړه حجره يې کړم چې کله نا کله په کې د ملګرو سره بنډار تود کړم خو مېرمنې مې د مور کره د تلو ګواښ راکړو.

د دې لپاره چې د خپلو خپلوانو د مبارکۍ او د دوی د راتګ په موقع د چايو ډوډۍ نه هم ځان بی غمه کړو، يوه جمعه مو په نوي کور کې خېرات وکړو. ټولو ته مو ويلي و چې د کور لپاره به راته هېڅ شی نه اخلي او که غوښتل يې نو په خپل وس دې راته پېسې راکړي.

هرمېلمه چې به هغه نيمه جوړه کوټه وليده نو خپله مشوره به يې راکړه. چا به ويل، ښه غسل خانه په کې جوړېدې شي، بل به ويل، نه د جامو وينځلو مشين په کې راځي. يو چا به ويل د برنډې برخه په کې يو ځای کړئ نو درېيمه کوټه به درته جوړه شي. ما او مېرمنې به مې هر چا ته سر خوځوو او اخرهر څوک چې رخصت شول نو زه ستړی ستومانه ويده شوم.

سهار د دفتر چوټي وه او نور کله په شان د شيرين په غږ نه وم ويښ شوی. هغې به هر سهار راباندې يو ټوپ ووهلو او زما مخ به يې ښکل کړو. نن په کور کې خاموشي وه او په پخلنځي کې مې مېرمنې د چايو تابيا کوله. زه هم ورپسې ولاړم خو شيرين هلته هم نه وه. د مېرمنې نه مې پوښتنه وکړه نو هغې په ډوډۍ پخولو کې راته وويل. "همدلته وه." زما سترګې د هغې په لټه شوې، نابېره دا مې وليده او غوښتل مې چې ورته " ای شيرينو" ووايم خو هغه د خپلې نانزکې سره د برنډې هغې نيمګړي کوټې ته ورننوته.

زه وريسی ورو ورو ولاړم چې وګورم دا په څه اخته وه. هغی خپل ټول شيان په کوټنۍ کې په ترتيب ايښي و او په يوې خښتي ناسته وه، نانزکې ته يې ويل، " مبارکه شه نوی کور دې... په دې ځای کې د جامو وينځلو ماشين کېده... ګوره دلته به غسل خانه جوړه کړې. " دا لږه شېبه غلې وه او بيا د نانزکې له خوا يې وويل، " پرېږده مړې، غسل خانه مسل خانه ، راځه چې ته او زه په کې اوسيږو."

ما اسمان ته وکتل او د هغې کوټې پلان راته ښکاره شو چې د پينځو کالو لور راته جوړ کړی و.

۲۰۰۶ م پېښور

## حلاله ډوډۍ

" ودروه موټر...هله ...هله " زما په چېغه خالد په برېک پښه ټينګه کړه، " څه بلا وهلې يې، اوس به مې موټر جنګولی و" خو ما د هغه خبره نه اورېده، د سکاټلېنډ په دې وړوکي ښاريه کې په يو دوکان د" حلال ګوشت " نښه زما تلوسه راپارولې وه. دا ۱۹۸۰م کلونه و. په هغو ورځو کې به مونږ دوه ساعته موټر د سفر نه وروسته د ترکانو له دوکانه حلاله غوښه راوړه. زمونږ ماشوم وړوکی او زما موټر چلول نه و زده . خالد د "پرت" ښاريي په روغتون کې ډاکټر و او هغه سره به دومره وخت نه و چې هره اوونۍ به يې راله حلاله غوښه راوړي.
زمونږ کورته نژدې په لوی سټور کې پاکه صفا غوښه خرڅېده او خالد ته د هغې په خوړلو کې څه عيب نه ښکارېدو. ډېر وخت به موهماغه پخوله. خو له کله راهېسې چې ډاکټر شريف خپله کورنۍ د برمنګهم له ښاره پرت ته راوستې وه، ما د پخلي سره ډېر احتياط کوو. د هغه مېرمنه شازيه پخه مسلمانه وه او د حلال او حرام خبرې به يې ډېرې کولې. د دوی د ډوډۍ لپاره به مې ارو مرو حلاله غوښه ساتلې وه. اوس چې مونږ "اينورنېس" کې د يو ملګري د واده د مېلمستيا نه وروسته ښېرته خپل کور ته روان و، نو په دې وړوکي کلي کې د حلالې غوښې دوکان زما تلوسه زياته کړه.
زه د هغه دوکان نه بې له سودا نشوم تېرېدې.

شازيې د يوې بلې مسلمانې کورنۍ سره اړيکې لرلې او راته يې ويلي و چې يوه ورځ به هغوی هم راکره راولي. خالد په يو ځای کې ګاډی ودرو نو ما خپل د سيټ تسمه پرانيسته، شا ته سيټ کې دوه کلن زوی مې پوه شو چې زه له موټره ښکته کېدم. هغه راپسې بوغارې کړې، خو ما ورته نه کتل، بهر باران په شپبو وريدو او ما کوټ نه و اغوستې. د اوچتو پوندو زرين سپنډل مې لامده خيشته شول. په سر مې نازکه لوپټه تاوه کړې په سړک مې منډې کړې او دوکان ته ولاړم. هلته نور څوک نه و او دوکان دار، چې يو پاکستانی و، راته هرکلی وويل. د غوښې پرېکولو او د وزن پروخت يې راته وويل چې دا دوکان يې اوس اوس پرانيستی او په سيمه کې لږ شمېر مسلمانانو ترې غوښه وړه. ما ته اندازه نه وه چې دا ځای د " پرت" نه څومره ليرې و خو هغه ته مې وويل چې هر وختې موقع پيدا کړه نو غوښه به ترې اخلو.

زه د غوښې د خلتو سره خوشاله چې موټر ته ورسېدم نو زوی مې په ژړا ژړا اوس سلګۍ وهلې اوخالد راته په قهر و. خو ما خلتې د موټر په مخ سيټ کېښودې او په خپله په وروستي سيټ کښېناستم چې زوی دلاسه کړم. په پاتې لاره ما او خالد جنګ کوو او هم په دې جنګ کې مې زوی ويده شو. دا دوکان له " پرت" ډېر ليرې و او ګومان مې نه کوو چې خالد به بيا په دې لاره راشي. د اوونۍ په پای کې شازيه د خپلې کورنۍ او د نورو مېلمنو سره راغله او په خبرو خبرو کې مې هغې ته د حلالې غوښې د دوکان پته وروښودله.

شازيې دوه لونې لرلې چې په ښوونځي کې يې داخلې کړې وې. د دې موټر چلول هم زده و او کله نا کله به زه ورسره د ښار لويو دوکانونو ته د سودا لپاره ورتلم. په بازار کې مونږ څه حرام شی نه خوړلو او هغې به له کوره ډوډۍ راوړه. راته يې وويل، دا د ټماټرو کېچپ هم حرام دي چې په کې شراب ګډ وي. په هغې ورځ خو زه ډېره وشرمېدم چې زوی ته مې يو ډول بسکټ واخيستل، هغې د بسکټو په غوړ کاغذ راته د دې توکي راښکاره کړل، " دا وګوره په دې ليکلي دي " اېنيمل فېټ " ياني د څاروي وازده، " د څاروي وازدې تورې مانا دا وه چې کېدې شوه په کې د "سرکوزي وازده" هم ګډه وي. په دې لوی شاپنګ سنټر کې د ناستې ځايونه و چې مونږ به پرې دمه کوله. هملته به دې راته د حلال او د حرام معلومات راکول، زه به ځان ته خجالت شوم چې څومره نا پوهه يم.

د ژمي لپاره په دوکانونو کې نوي مالونه راغلي وو او له دې سره د کرسمس رڼا ګانې هم هر ځای ښکارېدې. یوه ورځ زه او شازیه په دوکانونو کې ګرځېدو. هغې یوه پلاستیکي کڅوړه په لاس کې نیولې وه. راته یې وویل، "پروسږ کال مې یو جمپر ځان ته اخیستی و، هغه بدلوم". زه حېرانه شوم چې دلته شیان په دریو میاشتو کې دننه د بدلولو قانون و خو کال وروسته مې نه و لیدلی چې چا شی بېرته بدل کړی وي. هغې جمپر د کڅوړې نه راوویستلو، ورسره د قیمت ټیکټ ځوړند و چې وربانديې د دوکان لېبل هم وهل شوی و. هغې دا جمپر یوړو او زه ورته په انتظار کښېناستم. شېبه وروسته راغله او راته یې وویل، " بېرته مې ورله ورکړو او پیسې مې هم ترې واخیستې، او خبره یې ښځه پوندېه ګټه مې هم وکړه." زه بیا حېرانه شوم " ګټه څنګه؟"
د دوکان نه په بهر وتلو شازیې راته کیسه وکړه. " جمپرخو د دې دوکان و. خو په برمنګهم کې مې د دوی د یو بلې څانګې نه په سیل کې اخستی و. زه د ټولو جامو ټیکټونه سمبال ساتم چې پکاریږي، بس دا ټیکټ مې ورپورې وتړلو چې د لسو پونډو بیه پرې لیکلې وه، هغه جمپر خو په اصل کې د پینځو پونډو و" بیا یې راته سترګه ووهله او کټ کټ یې وخندل" زه خبره یم چې پرنګیان بې عقل دي، ټیکټ ګوري، او خبره یې هغې جینۍ رانه بخښنه هم وغوښته" بیا یې په زوره زوره وخندل، زه هک پک ورسره روانه وم او خوله مې نه جوړېده چې ورته مې ویلی وای،دا خوحرام...خو هغه شېبه زوی مې په ګاډي کې ناارامه شو نو ما ورته پام وکړو، بیا مونږ د شاپنګ سېنټر د کرسمس ونې سره نژدې یو ځای کښېناستو او شازیې د خپلې حلالې ډودۍ خلته پرانستله.

۲۰۱۲ م لندن

## پلار

"یا جینکوڅه شوئ؟ " هغې په لوړغږ ماشومانو ته چیغه کړه چې بره په کوټه د اخترمیاشت لیدو ته ختلي و. نسرین وروستۍ پکوړه له سرو غوړیو

راویستله او نغری یې بند کړو. سږ کال د اوړي روژې ښې تېرې شوې ځکه هره ورځ ماسپښین به سیلۍ راوالوته او څو څاڅکې به یې له ځانه سره راوړل. خو په وروستیو روژو کې هوا بیا ګرمه شوې وه او اوس د هغې ټول وجود په خولو کې لوند خیشت و.
" حمیدې، رشیدې" هغې بیا چیغه کړه، " دسترخوان جوړکړئ، روژه ماتې ته وخت لږ پاتې دی" هغې د برنډې په دېوال لګیدلې ګړۍ ته وکتل او یوه پټه دعا یې وکړه، " خدایه ته خو سبا اختر ونکړې" د پخلنځي نه په وتلو د دې پام شو چې مشر زوی عزیز پر تخت ملاست او سترګې یې پټې وې.
هغه په قهر شوه، " دا وخت ستا د ویده کېدو دی، عزیزه؟ پاسه نېغ کښېنه، دوه وختونه یو ځای کېږي." عزیز په مړاوي غږ وویل، "ویده نه یم، ابۍ ستړی یم." د هغې زړه پرې وسوځېدو او خبرې ته یې خوله جوړوله چې په پوښو د ماشومانو د پښنو دربۍ ته یې پام شو.
نسرین په خپله هم بې دمه په تخت کښېناسته. نور کله به یې په دې شور ماشومان ترټل خو اوس بې شیمې وه. " میاشت نه ښکاري" لس کلن ساجد اعلان وکړو، د هغې زړه ارامه شو. نور کله به یې د پېشمني د کړاونو د لاسه اختر ته تلوسه وه خو نن هغې میاشت پوره د ۳۰ ورځو غوښته.
ځان سره یې وخندل، " د څومره وړې خبرې لپاره مې سوال وکړو."
لوښو یې ژر ژر په کوټه کې د پلاسټکو لوی دسترخوان وغوړلو او نورو په منډه منډه وربانډې د خواړو شیان کېښودل. رشیدې د شربت په بالټې کې یخ ګډ کړل او په ۱۳ ګیلاسونو کې یې د ګوړې شربت واړولو. " پلار مو څه شو؟" هغې بلې کوټې ته وکتل چې هره ورځ په دې وخت به د هغې خاوند د روژه ماتې لپاره ترې راوتلو.
" دادا بهر دی؟" کشر زوی ورته خبر ورکړو. " ورشه ورپسې، دا د روژه ماتې وخت وګوره او د ده...هماغه وخت د اذان د غږ سره د هغې خبره په خوله کې پاتې شوه او ټولو ګیلاسونه راواخیستل، څو لاسونه د دستر خوان منځ ته وغځېدل او تر څو چې دادا راتلو، د کجورو او پکوړوغوړۍ په تشېدو وه. نسرین څو دانې پکوړې په یوې رکېبۍ کې بېلې کړې او د سړي مخې ته یې کېښودې چې راتلو سره یې د لور د لاس نه د یخ شربت ګیلاس اخیستی او خولې ته نیولی و.
د لمانځه د نیت سره د نسرین فکر یو وارې بیا هغو کارونو ته شو چې د اختر لپاره تر اوسه نه و پوره شوي. په سر کې د خاوند د اختر جامې وې

چې تراوسه ګنډل شوې نه وې او درزي ورسره لوظ کړی و چې له اختر يوه ورځ وړاندې به ورته ورکوي. دا څو کاله همدغسې کېدل. دوی به يوازې د يو يا دوه جوړ نويو جامو توان لرلو او د اختر نوي جامې به تل د هلکانو په نصيب وې. د هغې خپله د اختر جوړه ورېنداري له خوا راتله چې د ټولو نااندريو او وړو وړو جنګونو سره هم ورته د خپلې خواښې دا وصيت پر ځای ساتلی و چې، " زما لور له به د اختر په برخه کې نوې جامې ورلېږې" دا بېله خبره وه چې د جوړې لپاره به يې ورېنداری په بازار کې تر ټولو ارزانه تيکه لټوله او اوس خو د جامو ګنډل هم د هغې د لونږو په غاړه وه.

رشيدې او حميدې په کور کې د ګنډلو له لارې چې څه پېسې پيدا کولې، په هغې به يې ماشومانو ته نوي کالي او بوټان وکړل خو پلار يې څو کاله کېده چې اختر په زړو وينځل شويو جامو کې تېرکړو. سږ کال نسرين ټولو زامنو ته په ډاګه ويلي و چې د اختر نوي جامې به مو يوازې او يوازې دادا لپاره جوړيږي. مازيګر هغې خپل زوی جامو پسې واستوو نوخبر يې راوړو چې نن ټوله ورځ بجلي(برق) نه وه او درزي به د شپې کار کوي.

له هغې راهېسې نسرين دعاګانې کولې چې سبا ته دې اختر ونشي.

هغې په ډاډه زړه روژه ماتې وکړه او د لمونځ نه وروستو لا د مصلې نه را پاڅېدلې نه وه چې هوايي ډزې پيل شوې.

د خلکو صبر تمام شوی و، مياشت څوک څه کوي؟ په جومات کې هم سبا د اختر اعلان وشو نو نسرين ډېره خفه شوه. " يا خدايه ته خو کله کله د بې وزلو دعا هم واوره کنه." ښايي خدای پاک هم د دې ګيله واورېده او د شپې ناوخته زوی يې د پلار د اختر ګنډل شوې جامې راوړې. هغه له خدای راضي شوه، اسمان ته يې وکتل، " خدايه تل راباندې مهربانه واوسې" بيا يې رشيدې ته وويل چې د پلار جوړه ورته تياره وساتي چې سهار يې د اختر لمانځه ته واغوندي، د ډېرو ناتمامه کارونو د فکر سره هم دا د شپې په ارام ويده شوه.

د سهار د لمانځه نه وروسته هغه په پخلي لګيا وه. د کور په حمام د هلکانو جنګ و او هغې به کله نا کله يو يا بل هلک ته چيغه کړه چې اوبه دې کمې استعمالوي. ټولو زامنو يې چای وڅښه او د پلار سره د اختر لمانځه ته ولاړل. هغه خبره نشوه چې چا څه اغوستي و. ژر ژر يې مېنچې پخې کړې، لاس يې اوچت کړو، مړيو پسې يې دعا وکړه او بيا د غرمې د ډوډۍ

لپاره یې غوښنه باندې کړه. تر هغې یې لوښو کور پاک کړو، کټونه یې بهر غولي کې کېښودل، د پاسه پرې ګلدار څادرونه وغوړول، ګول بالښتونه یې پرې کېښودل او په یوه کوټه کې په ځانونو جوړولو اخته شوې.
نسرین دوه درې رنګه شیان پاخه کړل او چې ټول د عید ګاه نه راغلل نو د اختر مبارکۍ شور او زوږ شو. کله چې هغې د خاوند غږ واورېدو نو له پخلنځي رابهر شوه.
د نسرین په زړه لکه چا سوک وهلی و، هم هلته ودرېده. د هغې مېړه نن هم نوي جامې نه وې اغوستې. د هغې په سترګو کې پوښتنه او ګیله دواړه و او چې سړي ته یې وکتل نو هغه د لوښو سره په غبږ اختر مبارکۍ کوله. دادا خپله نوي جوړه مشر زوی ته ورکړې وه چې اوس یې قد هماغومره و. نسرین ته یې وکتل نو د هغې په سترګو پوه شو، په خندا یې وویل، " دا جامې د کریم سره څومره خوند کوي." بیا نسرین ته ورنژدې شو او ورو غوندې یې وویل، " مونږ اوس زاړه شو... په نویو جامو به څه کوو، پرېږده چې ځوانان خوشالي وکړي.
۲۰۱۰ م پېښور

## شنه لښته

د "خرولي" ونه مې ولیده نو انور ته مې ته د ودرېدو وویل. د جیب نه مې چاقو راوویستو او یوه شنه لښته مې ترینه پرېکړه،هماغومره غټه او اوږده چې زما په لاس کې وه.
انور راته کتل او اخر ترې صبر ونشو، " نو دا د لاس په لښته څه شوي دي چې بله دې پرېکړه." ما هغه په نژدې ویاله کې په غورځولو وویل، " دا بس ده زړه شوه" هغه دومره په زوره وخندل چې په بایسکل سپور ځوان خپله لاره بدله کړه او یوې کوڅې ته ننوتلو.
ما د لښتې نه څو پاڼې وشوکولې او په چاقو مې هواره کړه، دواړه په لاره روان وو او خبرې مو کولې.د ښار دا برخه نن مونږ ته راکړې شوې وه او ګشت مو کوو چې که څوک بې ږیرې ځوان یا بې جرابو ښځه مو ولیده نو سمې لارې ته یې راولو، انور لږ نرم چلېدو او زیات وخت د قران په تلاوت یا د ایت الکرسي په اورولو به یې مجرم پرېښودو.

زما د شنې لښتې ګوزارونه خوښېدل او اوس مې هم د لوی روغتون سره د ښځو یوه ډله ولیده نو ورپسې روان شوم، دوی ټولې پټې وې او په پښو یې بوټان و، پوندې یې نه ښکارېدې خو د بوټانو کړپې یې زما په ماغزو لکه د سټک ګوزارونه کول،په دوی کې یوه ځوانه ډېره مسته مسته روانه وه او زما یې تګ خوښ نشو.
دوی رانه لیرې وې او مونږ یې نه و لیدلې ځکه خو یوې تنګې کوڅې ته چې ورننوتلې نو د خبرو او د خندا غږونه یې لوړ شول، زه خو داسې موقع له خدایه غوارم ځکه د دوی په نخرو او په چلونو پوهېږو. په تراټ ولاړم، لکه د پړانګ مې ورباندې ټوپ کړل او شنه لښته مې ورباندې لکه د تورې وبرېښوله. د لښتې په ګوزارونو، هغه مسته مسته چې کېده، ښه په زوره زوره مې ووهله ، دومره په زوره چې له خولې یې یوه سپېره کړیکه راوتله.
دوی ټولې لکه د غواګانو په منډه شوې خو ما کله پرېښودې، ورپسې مې ځغستل او لښتې ته مې زور ورکړو. اخر دوی ولاړې په یو کور کې دننه شوې، دروازه یې ځان پسې وتړله او هرې خوا ته خاموشي خپره شوه، ما خپله شنه لښته په ترخ کې ووهله او انور ته مې اشاره وکړه.
د انور غږ ډېر دروند او ویروونکی دی او کله چې په زوره خبره کوي نو له ونو مرغۍ هم والوزي. هغه د کور په دروازه ودرېدو او په لوړ غږ یې خبرداری ورکړو، څه د دین او د اخرت خبرې یې وکړې او نور د هغو امرونو یادونه وه چې اوس یې زه د اورېدو توان نه لرم.
زه په منډه ولاړم او د کوڅې بل سر ته مې کتل چې د یوې دروازې نه د چا سور پوړنی ښکارېدو. نژدې وه چې شنه لښته مې ورته نیولې وای خو سور پوړنی د یوې ماشومې و. د هغې دواړه لاسونه یې نه و او په خوله کې یې یو وړوکی بالټې نیولی و چې شېده ترې اخوا دیخوا څڅېدل.
انور راپسې منډې وهلې او چې دواړه د کوڅې نه ووتلو نو راته یې وویل، " کور مې په نښه کړو، که غواړې سبا به راشو" ما ورته وویل، " راځه په دې پلیتو ښځو وخت مه خرابوه،بیا مې ورته سترګه ووهله، " شپه به ستا کور کې تېرو او که زما حجرې ته راځې؟

۲۰۰۴ م کابل

# د غونډې نه وړاندې

هغه چې کوټې ته را ننه شو نو د سهار پخیر ویلو سره یې په لاس کې نیولي لوی کاغذي ګیلاس، پر مېز کېښودو او بیا یې اوږد کوټ له ځانه لیرې کړو. ناست کسان چې د خبرو لړۍ یې د ده په راتګ ماته شوې وه یو بل ته په سترګو کې وموسېدل او یو تن ورته وویل "کپه چینو" ده که "لاتې؟"
نوی کس په کرسۍ کېناستو او د ګیلاس نه یې د پلاستیکو سر په لیرې کولو وویل" زه چې سهار "تور ایسپریسو"ونه څښم، ټوله ورځ مې په سر درد وي" د دې ګول میز په یو سر کې ناستې مېرمنې دومره په زوره وخندل چې په خوله یې ځان له په خپله لاس کېښود او په بل لاس یې په مخ راغلي زلفې شا ته وځنډلې. په خندا یې وویل " همدا خبره ما لره شپېه وړاندې ټولو ته کوله، چې سهار "ایلپریس" ته ولاړه نشم نو ورځ مې بده وي"
د مېز په بل سر کې ناست د یو پاخه عمر سړي، خپل کاغذي ګیلاس چې نیله او تور رنګ یې لرلو خو اوس تش و، تاو کړو او په ویاړ یې وویل " یو څو کاله کېږي، تاسو لا دلته نه وای راغلي (او دې جملې ته یې ښه زور ورکړو) کله چې د "ستار بکس" لومړۍ کېفې په دې مخامخ سړک پرانیستل شوه. ما به همدلته ناشته کوله خو اوس هرتور مخې هلته ناست وي. زما د " نیرو " کافي خوښیږي،لږ ګران وي خو د دوی په شان " ترکش" څوک نه لري.
یو بل تن چې د مخ پوست یې لږ تور و په خپلې کرسۍ تاو راتاو شو، نسواري او سور رنګ کاغذي ګیلاس نه یې کافي له وخته څښلې او دا یې د خزلې په ټوکرۍ کې اچولی و، غاړه تازه کړه" ز ه خو چې د کافي ریپبلک د " موچا " ګیلاس او د بادامو " کراسان" د کمپیوټر مخې ته ونه خورم، لیکلې توري راته نه ښکاري.
یوې مېرمنې چې دوی نژدې ناسته وه،داسې یې ښکاره کوله لکه چې په لوستلو بوخته وه، خو غوږ یې نورو ته نیولی و. هغې سر راپورته کړو او ویې ویل " زه د "کوسټا" دا سور او سپین ګیلاس چې په لاس کې را واخلم نو زړه مې ارامه وي چې چاپېریال ته تاوان نه رسوم، پو هیږئ دا ګیلاس د زړو ورځپاڼو نه جوړوي ."

هغه کس چې تر ټولو وروسته راغلی و، په خندا وویل، داسې ښکاري لکه چې دلته د کافي اشتهارونه جوړېږي" ټولو وخندل خو د اوږدو زلفو مېرمنې مخ واړوو او په ګیله منه لهجه یې وویل، "تاسو به باور نه کوئ چې زه افغانستان ته ځم نو په نیم بکس کې مې د کافي بوتلې وي." یو ځوان سړي د هغې خبره پرېکړه، " اوس خو په کابل کې هر ډول کافي پیدا کیږي، تا د چېلسي مارکېټ لیدلی دی؟"

په دې خبره د څو کسانو غږ راپورته شو " نه! نه! هلته په هر څه نیته تېره وي" بل وویل " بې له " نېس کېفې" او " مېکس وېل "نور هېڅ ورسره نه وي". درېیم وویل " ما یو ځلې د امریکایي کافي یو ډبی واخیستو او هغه هم د دې لپاره چې زما پیسې یو افغان جیب ته ولاړ شي. خو کله چې "ګندمک میلمستون" کې مې پرانیستو نو ټوله کافي په کې خیم وه"

یو چا په زوره وخندل " تاسو اوس هم په ګندمک کې ایسارېږئ، زما ادارې خو په سخته راته ویلي دي چې د " سرینا " نه علاوه بل ځای کې به نه پاتې کیږئ. د هغه ځای د کافي خوند بل ډول وي" هغه کس د خجالت نه موسکی شو خو ژر یې د مشر خبرې ته غوږ ونیولو.

هغه لګیا و" د کافي سره ادرک (زنجفیل) که ګډ شي نو عجب خوند کوي، مونږ سره د کاناډا یو جنرال څه موده کارکوو" هغه د" جنرال " په توري ښه زور راوړو، " د ظالم بچي به تازه زنجفیل وټکوو او بیا به یې د کافي پخولو پر وخت ور سره ګډ کړو" یو ځوان سړي چې تر اوسه غلي ناست و، په جوش کې وویل " دا خو څه نوې خبره نه ده، نن سبا په کافي کې د نارنج، منې او ان چې سور مرچ هم ګډوي، وایي چې دا د صحت لپاره ښه وي".

مېرمنو اوس د مېز یو او بل سرنه د " کراسان او ډېنش پېسټري " په اړه یو بل ته معلومات ورکول چې د کومې هټۍ نه دې واخلي. مشر هم د خپل لاس ګړۍ ته وکتل، " څه فکر کوئ، غونډه شروع کړو که نه؟" ټولو یو بل ته سترګې واړولې خو یو تن په کې وویل، " څو شیبې به نور هم انتظار وکړو، سایمن مهم ژورنالېست دی او که زمونږ د هڅو په اړه یې ښه مضمون ولیکلو نو د نوې پروژې لپاره به فنډ (پېسې) تر لاسه کول راته اسانه شي." مشر نورو ته وکتل نو یوې مېرمنې په خپل یو لاس د غاړې په زنځیر کې ځوړند مصنوعي الماس تاو راتاوکړه او ویې ویل "زه نه پوهېږم چې ولې هر وختې به مونږ دوی ته په انتظار یو. هغې د " دوی" ټکي ته

ښه زور ورکړو. "دومره بې کلتوره خلک دي چې..." خبره یې نیمه
پرېښوده. هغه کس چې "موچا" یې څښل سر وخوځوو، " خوري دا هغه
خلک دي چې زاړه  مور او پلار حکومت ته وسپاري او اولادونه یې د
شپاړسو کالو شي نو له کوره یې وباسي"
هغه چې " لاتې " یې خوښ و، په زوره وویل، " دوی زمونږ په کلتور خبر
نه دي، څنګه کولی شي چې وطن راجوړکړي؟" ټول غلي شول. هغه کس
چې تر ټولو وروسته راغلی و، د خپلې کافی نه یو لوی ګوټ وکړو او له
کړکی بهر د څه شي په کتلو بوخت شو.

نوټ:
الپرېس، کوسټا، نیر او کافي ریپبلک، د کافي خرڅوونکو هټیو نومونه دي. موچا، ایسپریسو، کپاچینو، لاتې  او نور د کافي بېلا بېل نومونه دي.
کراسان د فرانسې نرمه باکر خاني وي او دېنش د ډنمارک ولونه ولونه کلچه وي،دواړه سهار په ناشته کې خوړل کېږي.

۲۰۰۷ م کابل

## د چایو کڅوړه

زه پوهېدم چې زما د خواښې رانه بد راتلل.  هغه د واده له لومړی ورځې
رانه مروره وه ځکه زما مور ورته ښې جوړې نه وې ورکړې.  د اوومې
میلمانه ولاړل نو ما خپل ټول بکسونه خواښې ته پرانیستل چې هره جوړه
یې خوښه وي ترینه واخلي.  هغې خله بوسه کړه او وییې ویل، " واده خو
یو مراد وي، زما سره هم ډېرې جوړې شته خو د ځینو خلکو راباندې ښه
شی نه و پیرزو"
زه پوهېدم چې دا ځینې خلک څوک و او ما ته یې پېغور راکوو خو ما
ورته په سړه سینه وویل چې په ښار کې مونږ خپل کور نه لرو، یوازې د
پلار په تنخوا مو ګوزاره ده.  زما د سر تاج او د غاړې هار جاوید
نومیږي او په پوهنتون کې استاد دی.  هغه ته مې دا خبره وکړه نو راته یې
تسلي راکړه چې هر څه به سم شي.  د کلي هره ښځه چې زما مبارکی له
راتله، خواښې به مې ورسره کېناسته او په یو نه یو ډول به یې خبره
واچوله.  په اخره کې به یې هم دغه بیان کوو چې " سیالي مو پوره نشوه،
ارمانونه مو ونه رژېدل."  عجیبه خبره دا وه چې زما د خسر په وړاندې به
غلې وه او زوی ته به یې هم څه نه ویل، خیر ما هم ورته زړه لوی کړو.
مور راته ویلي و چې که خواښې هر څومره درته بد رد ووایي، خبره به
ورته نه ګرځوې او نه به خفګان کوې.

د واده څو میاشتې لا نه وې تېرې چې د جاوید په جرمني کې د پي-ایچ-ډي لپاره وظیفه منظوره شوه. خواښې مې خوشاله هم وه او خفه هم. خفګان یې په دې و چې زوی ترېنه لېرې تلو او کله چې خبره شوه چې زه هم ورسره تلمه نو څو ورځې یې راسره خبرې نه کولې. خپل مېړه او زوی ته یې ډېرې ویناوې وکړې او زور یې راوړی و چې زه پاتې شمه، دلیل یې دا و چې زوی خو به یې سبق وایي نو زه به څه کوم؟
د تلو نه وړاندې مونږ د نورو ګرانو مرحلو نه تېر شو. په سختې ګرمۍ کې به یو دفتر او بل ته ورتلو. زه نوې ناوې وم او په زړه کې مې ارمان و چې جاوید سره چکر ته ولاړه شم خو د تګ کارونه ضروري و او ما ځان له تسلي ورکوله چې په جرمني کې به ښه سیل وکړو. یوه ورځ مونږ د پاسپورټ دفتر نه کور ته راستون شو. جاوید زه په کوڅه کې ښکته کړم او پخپله بېرته زما د لیوره سره په موټر کې د نورو کارونو لپاره ولاړو.
د کور په دروازه کې مې دننه د خواښې غږ واورېدو چې په زوره زوره چا سره لګیاوه. " زه خو د اولې ورځې نه پوهېدم چې یو څه چل په کې دی، ارو مرو زما په زوی یې څه کړي دي، که نه تر اوسه یې ولې وظیفه نه کېده؟ د ګل اندامې غږ تېټ و او زه پرې پوهه نشوم چې څه یې وویل خو د " تعویذ" ټکی مې واورېدو. زما د غوږونو نه یوه لمبه پورته شوه او زړه مې وو چې همدلته ایساره شم. د دوی نورې خبرې هم واورم او بیا ورباندې حمله وکړم او هر څه په ډاګه کړم او ښه یې وشرموم. خو هغه وخت خسر مې د جومات نه راروان و او د کوڅې په سر کې مې ولیدو نو تمبه مې وډبوله، دننه خاموشي شوه. تر هغې مې خسر هم دروازې ته رسیدلی و او زما د سلام په ځواب کې یې وویل، " هلکان څه شول؟" ما لږ په زوره د هغې ورځې حال تېر کړو او زما په لیدو ګل اندامه، چې کله کله به یې زمونږ د کور درانه کارونه کول له ما څادر واخیستو او په کارونو اخته شوه.
زمونږ د تګ ورځې رانژدې شوې او هر چا راته د ډوډۍ او د میلمستیا بلنې راکولې. تر وروستۍ ورځې هم زمونږ د بکسونو او د سامان د تړلو کار نه و پوره شوی. د واده ځینې تحفې چې ملګرو او خپلوانو راکړې وې، هماغسې په ډبو کې بند پاتې شوې. د نوي پالنګ نه مې وریښمین پوښ لیرې کړو او د کتان څادر مې پرې وغوړو. د توشک د سر لاندې چې مې څادر تاو کړو نو لاس مې د څه شي سره ولګیدو. یو څو کاغذونه

و چې لکه د پونيو تاو راتاو و. ما داسې فکر وکړو چې توشک پورې نښتي اشتهاري پاڼې دي چې د کمپنۍ نوم پرې ليکلي وي. دا مې يوې خوا ته وغورځول اوڅادر مې هوار کړو، جاويد د خپلو کاغذونو نه ردي بيلوله او يوې لوی کڅوړې ته يې غورځول.
ما هغه پونۍ هم په کې ورگوزار کړه نو د ده په لاس ولگيدې. " دا څه دي؟" ده پوښتنه وکړه. ما ورته وويل،" د دې توشک لاندې نه راووتل، خدای خبر دا کمپنۍ په کومو کومو ځايونو کې خپل اشتهار لگوي" جاويد يوه پونۍ پرانيسته او ورته ځير شو. د ده عادت دی چې د کاغذ هره ټوټه لولي، زه د نورو شيانو په راټولولو اخته وم، دی راپاڅېدو او د توشک لوري ته ولاړو، بيا يې دا په بل مخ واړووو. ما ورته کتل چې دی يو څه انديښمن ښکارېدو. " څه دي؟" ما ترې پوښتنه وکړه. هغه يو څو نورې پونۍ چې د توشک سره نښتې وې، رابيلې کړې او وويل، " ته خبره يې چې دا څه دي؟"
زه حيرانه ورنژدې شوم او د ده د لاس نه مې يوه پونۍ واخيسته. څه عجيبه ژيړ رنگ يې و او د پاسه پرې هندسې او عربي توري ليکلي و ما ته د پخوانيو کتابونو نه رابيل شوي زاړه کاغذونه ښکارېدل. " دا تعويذونه دي" ما په ژوند کې چرې تعويذ نه و ليدلی، يو څه تلوسه مې پيدا شوه. کاغذونو ته ځير شوم خو پوهېدم نه چې څه پرې ليکلي و او مطلب يې څه و. جاويد په توشک څادر بيا هوار کړو او په شکمن غږ يې پوښتنه وکړه، " دا به چا دلته ايښي وي؟" " ما ورته وويل، " دا ټول سامان خو راته خويندو ايښې دي. خو کوټه تر اوسه راته گل اندامې پاکه کړې ده " د هغې د نوم سره راته د څو ورځو وړاندې خبرې رايادې شوې.
جاويد ته مې کيسه وکړه نو په تندي يې گونځې ښکاره شوې." زه په دې خرافاتو باور نه کوم، ته هم هر څه هېر کړه، دا خوشې خبرې دي" بيا ټول کاغذونه يې په لويه خلته کې واچول اوبهر د غولي په تنور کې يې هر څه وسوځول.
د شپې راسره انديښنې وې خو سفر مو اوږد او ستړيا دومره وه چې زه په ټوله لاره په الوتکه کې اوده وم. مونږ په برلن کې نوی ژوند پيل کړو او جاويد هلته د رسېدو سره په پوهنتون کې مصروفه شو. زما د چکر ارمان هماغسې پاتې شو خو د خپل ژوند نه خوشاله وم، د ځان د مصروفه ساتلو لپاره مې د جرمني ژبې په يو کورس کې داخله وکړه. کال وروسته راته

خدای زوی راکړو چې اسحاق نوم مو ورله کېښودو. کله کله به زه په کور پسې خفه کېدمه خو د جاوید سره دومره پېسې نه وې چې د تلو لپاره ټکټ یې راته اخیستی وی.
جاوید خپل سبق پوره کړو او درې کاله وروسته وطن ته د تلو زیری یې راباندې وکړو. اوس زما په غیږ کې زما نازدانه لور مریم هم وه، کلي ته زمونږ رسېدل هماغسې و لکه چې د واده ښادۍ په موقع وې. زمونږ کوټه راته پاکه او د اوسېدو لپاره برابره شوې وه. ماشومان مې لاس په لاس گرځېدل او څو ورځې بیا په میلمستیاوو تېرې شوې. کور له میلمنو تش شو نو سامانونه بیا پرانیستل شول، د خپل واده لوښي مې راوویستل او د چینک په لیدو مې چایو ته زړه وشو.
د جرمني نه مې یو عادت اخیستی و چې د تورو چایو پوڼۍ هر ځای د ځان سره وړلې. جاوید د تورو چایو شوقي و او چې ایشېدلې اوبه مو پیدا کړې، د چایو پوڼۍ به مو پیاله کې کېښودې اوچای به مو جوړې کړې. ما به په کې کله شېدې گډې کړې او کله به مې تورې څښلې، نن ډېره موده وروسته مې په قند دانۍ کې چیني، په شیر دان کې گرمې شېدې واړولې او چینک پیالو سره مې په پتنوس کې کېښودل. دا جاپاني سیټ زما ډېر خوښ و ځکه پیالۍ یې نازکې دي، بیا یوه یوه پیاله چای مې خواښې او خسر ته هم کېښودل.
د چایو تش لوښي هاغسې زمونږ په کوټه کې پر مېز ایښي و چې جاوید په چینک کې نورې اوبه اړولې او څو پیالې یې څښلې وې، د غرمې د ډوډۍ نه وروسته گل اندامه کار ته راغله او لوښي یې د وینځلو لپاره راټول کړل. خسر مې اسحاق جومات ته بیولی و او ما چې مریم اوده کړه نو په خپله مې هم ډېره ولگوله، د لوښو کړنگ کړونگ مې اورېدو او پوهه نشوم چې څه وختې مې سترگې ورغلې. خو په یو تیز غږ مې خوب خراب شو. خواښې مې په زوره زوره لگیا وه، ورسره د گل اندامې غږ مې هم اورېدو. د جاوید غږ چې په کې گډ شو نو زه پوهه شوم چې څه خاصه خبره شوې وه ځکه هغه به د هېچا په خبرو کې نه گډېدو.
شور په پخلنځي کې و او زه هملته ورغلم،گل اندامه او خواښې مې یوې خوا ته او جاوید بلې ته ولاړ و. هغې زما په لیدو یه چیغه وویل " دا شېشکه ده ...په هر چا تعویذونه کوي، ته کم عقل یې چې په دې نه پوهیږې. گل اندامې هم څه ویل خو ما ورته سترگې برندې کړې نو غلې

شوه. جاوید هم زه ولیدلم. " ته پوهیږې چې دوی څه وایي؟" ما په منفي کې سر وخوځوو. خوابښي رابانديې بله حمله وکړه، " دا به ځنګه مني، غل هم چرې ویلي دي چې غلا یې کړې ده؟" خوابښي مې چینک جاوید ته وړاندې کړو چې سر یې پرې نه و، " هن په خپله وګوره دا تعویذونه په دې چینک کې ځنګه راغلل؟ چای خو دې شپشکې په خپله جوړې کړې، ما هم وڅښلې، خدای خبر د څومره مودې نه دا کار کوي او د کوم یو پیر نه یې اخیستي دي" ګل اندامې زرغوړونو ته لاس کړو. " توبه توبه...زویه دا کار په اسلام کې ناروا وي"
ما د وینا لپاره خوله خلاصوله چې جاوید لکه د فلسفیانو سر وخوځوو، " ته رښتیا وایي مورې، دا شپشکه ده کنه، دا په هرچا تعویذونه کوي، په ما خو یې د اولې ورځې نه تعویذ څه چې جادو کړی دی" د جاوید په خبره ما دومره په زوره وخندل چې ګل اندامې او خوابښي مې وارخطا غوندې شوې. دننه مریم له خوبه راویښه شوې او په ژړا وه، ما خپلې کوټې ته منډه کړه او په زوره مې وویل، " دا د جرمني تعویذونه دي، که نور مو پکار وي نو پوره ډبی راسره دی"

۲۰۱۲ م لندن

## ملي ورځ

خلک په دې لوی تالار کې کښېناستل نو یو سرې خپله غاړه تازه کړه او د ډېرشو کسانو خبرې بندې شوې. ویاند د غونډې هدف بیان کړو چې راتلونکې اوونۍ د ملي ورځ د نمانځنې لپاره باید یو پروګرام ترتیب کړې. هغه یو سپین ږیرې ته اشاره وکړه چې د ډېر وخت نه په یو کاغذ یې څه لیکل.
" زما په فکرکه مونږ یو سیمینارجوړ کړونو ښه به وي. په دې پلمه به ځوانانو ته خپل اتلان وروپېژنو. کتابونه به ورته راوغواړو، اوس خو ډېر لیکوالان لرو، د هغوي خبرې به واورو. زمونږ محترم حاجي باروز تازه د وطن نه کډه کړې ده او د هیواد نامتو شاعر ګلفروش په څو ورځو کې دلته راځي... " هغه لږه ساه واخیسته نو څو کسانو په یو وخت خبرې وکړې چې یو بل کې ګډې وډې شوې.

" سیمینار به ښه وي...پرېږده یاره...سیمنیارونه ډېر کېږي...یاره د حاجي باروز مجلس خوند کوي...مشاعره به وکړو..."په دې کې د ویاند موبایل ټېلیفون وغږېدو او هغه د چا سره په خبرو اخته شو.
تر څو چې د هغه خبرې خلاصیدې، په تالار کې دومره شور و چې هیچا د بل خبره نشوه اوریدې. ویاند د مېز په ډبولو د ټولو پام ځان ته راوګرځوو.
" ځینو ورونو د یوې مېلې د جوړولوغوښتنه کړې دې. هم دا اوس راته چا زنګ وهلې و او که ستاسو خوښه وي نو زه به د سردار خان نه پوښتنه وکړم چې څه وایي"
خلکو خپل خپل څټ یو نري نروچکي کس ته تاو کړو چې عېنکې یې په سترګو وې. د ده د وړې ږیرې نیم وېښته سپین او نیم تور و. تیله دار واسکټ یې اغوستې او په سر یې لوې نسواري پټکې تاو کړې و. هغه غاړه تازه کړه، بیا یې بسم الله او کلیمه تېرکړل او ټولو ته د هرکلي نه وروستو یې وویل، " زما نظر هم هغه دی، څه چې د ټولو نظر دی. ملي ورځ زمونږ د ملت شناخت دی. ژوندي قامونه دا ورځ لمانځي او که څوک راباندې د مړو ګومان وي نو ورته به وښایو چې دا ملت اوس هم ژوندې دی"
په ګڼون کوونکو کې یو کس بل ته په غوږ کې وویل، " دا به اوس یو ساعت لګیا وي." بل هم د شونډو لاندې وویل، " زه به لږ خوب وکړم"
ویاند لکه چې پخپله هم نه غوښتل چې سردار خان ډېر وغږېږي نو د هغه خبرې یې پرېکړې او یو ځوان ته یې اشاره وکړه. " راځئ یو کشر ته به موقع ورکړو چې خپل نظرراکړي." ځوان په تونده لهجه ووئیل، " زه کشر نه یم، خپل نوم او شخصیت لرم"
څوک وموسیدل او چا هغه ځوان ته بد بد وکتل خو وېناوال په سړه سینه ووئیل، " ښه نو ځان به پخپله راوپیژنې" هلک په خپل ځای ودریدو، " زه سعد الله خان یم...په پوهنتون کې مې د تروورزم د مطالعې ډله جوړه کړې ده...د لبرال ګوند د ځوانانو په څانګه کې سکتر یم..." یو کس یې خبره پرېکړه، " رالنډ یې کړه نو ښه به وي." څو نورو کسانو هم څه ویل غوښتل خو د یوې ځوانې جینۍ غږ په اوریدو غلي شول.
" زه د دې غونډې نه پرون خبره شوم او هغه هم د یو بل ځای نه. باید د دې بلنه ټولو ته په اي- مېل کې ورکړې شوې وې. اوس د هر چا په جېب کې موبایل وي، یو " ټېکسټ مسیج" پکار و..."

وياند هغه جينۍ نورو خبرو ته پرې نه ښوده، " بي بي زه پخپله تر پرون خبر نه وم او غونډه په تادۍ کې رابلل شوې ده. ښه به دا وي چې نور وخت ضايع نکړو ځکه تر سبا بايد يو پروګرام د مطلوب خان پرمېز پروت وي."
د جينۍ مخ سور شو او اخوا دېخوا يې وکتل خو چا ورته پام ونکړو او سعد الله بيا خبرې پيل کړې. " زما نظر دا دی چې مونږ بايد د دې ځاې د حکومت غړي راوغواړو چې د دوي په وړاندې مو سر لوړ شي" څو کسانو " بې شکه...ښه نظر دی..." وويل او ځوان کېناستو نو يو چاغ سړې چې په خپلې کرسۍ کې نه ځايدو او د خبرو پر وخت يې د ساه غږ خلکو اوريدې شو لګيا و. " سږ دوبې ښه تود دی او ښايي د اګست مياشت هم دغسې پاتې شي. که يو پارک کې مو خلک راټول کړل نو د اتڼ انتظام به زه وکړم."
ځينو د خوشالۍ نه لاسونه وپړکول او وياند سر وخوځوو " دا هم ښه نظر دی. " سپين ږيري وويل، "د يوې خبرې خيال بايد ووساتو چې په دې پردي وطن کې داسې کار ونکړو چې زمونږ د عنعنانو سپکاوي وي. خلک راباندې وخاندي. په تېر اختر کې مو وليدل چې په يو ډول غږولو څومره ګرېوانونه څيري شول. ښه وه چې زه هلته وم که نه خبره پوليسو ته رسيدلې وه."
چاغ سړي په لوړغږ وويل، " هغه د بلې غاړې خلک و چې د يو خاص پروګرام سره هم په دې هدف راغلي وو چې زمونږ پروګرام خراب کړي."
وياند سپين ږيري ته برند شو، " کاکا جان، تا خو په دې ملک کې دېرش کاله تېر کړي دي، د پوليسو افسر پاتې شوې يې، تعليم دې کړې دی، په څو ژبو خبرې کولې شې، د دې ځاې لوې لوې خلک دې پېژني...ته خو بايد په دې خبره پوهه شې چې څوک د کومې ډلې دي او په څه اخته دي"
هغه کس چې د سيمينار وړانديز يې کړې و، يو کاغذ ټولو ته ښکاره کړو. " ما سره ټول پروګرام ليکلې دی. وياند هغه ته د پروګرام د لوستلو وويل نو ده پرې شروع وکړه.
"زمونږ پروګرام به سهار لس بجې پيل شي..." په تالار کې احتجاجي غږونه پورته شول، " دومره وختي...زه خو دولس بجې پاسېږم...زه هغه وخت کار کې يم...زوې مې فټبال ته بيايم...

بیا ډېر وخت تېر شو چې خلک غلي شي. ویاند د ډیموکراسۍ په اصولو ټولو نه راۍ وغوښته. دوو کسانو د لسو بجو لپاره، څلورو د یولسو بجو او نورو د ماسپښین دوو بجو لپاره لاسونه پورته کړل.
کاغذ وال پخپل قلم وخت بدل کړو او بیا یې وویل. "د قران پاک د تلاوت نه وروستو به څو ماشومان ملي ترانه ووایي." یو کس د بل په غوږ کې وویل، " ټول به د ده خپل ماشومان وي" بل د خپل خندا پټولو لپاره وټوخیدو.
کاغذ وال لګیا و، " زه به ټولو مېلمنو ته هر کلې ووایم" ویاند لاس پورته کړو، " د هر کلي لپاره خو مونږ نور کسان هم لرو، زما نظر دا دی، البته دا " زما خپل" نظر دی او زه نه غواړم چې څوک ترې بل مطلب واخلي.
حاجي باروز نه زما ملګرې دی او نه څه بل...تاسو پوهیږئ چې زه څه وایم؟" څو کسانو سر وخوځوو، نور یو بل ته په سترګو کې موسیدل.
ویاند خپلې خبرې جاري وساتلې، " هغه یو ملي شخصیت دی، خلک یې پېژني او ترټولو ښه عادت یې دا دی چې په چا پسې خبرې نه کوي. زما په نظر هغه ته به خواست وکړو چې د سېمینار د پرانستې تقرير وکړي."
یو ځوان پوښتنه وکړه، " ولې حاجي باروز نن دې غونډې ته نه دی راغلې؟" بل کس هم غږ کړو، " هغه نه مو پوښتنه کړې ده چې خبرو ته حاضر دی که نه؟
ویاند ژر وویل، " زه دلته د راتلو نه وړاندې ورسره غږیدلې یم، هغه حاضر... یاني را به شي...زما مطلب دی چې راضي به یې کړو" یو څو کسانو پټ وخاندل او د ویاند مخ سور شو. کاغذ وال بیا لګیا شو، د حاجي صېب د هرکلي د خطاب نه وروستو به زه یو څو خبرې وکړم... هغو دوو کسانو کې یو وویل، " که ده خبرې ونکړې نو ساه یې خېژي" بل کس په زوره وخاندل نو ټولو د دوي لور ته وکتل.
ویاند ورته برند شو خو کاغذ وال لګیا و، " بیا به مشاعره پیل کړو او که ګلفروش تر هغې راسره و نو هم هغه ته به د صدارت ووایو. تاسو ټولو ته خواست دی چې نورو شاعرانو ته هم خبر ورکړئ چې راشي." ویاند وویل، " حاجي صېب پخپله ډېر ښه شاعر دی."
هغې جینۍ بیا غږ راپورته کړو، " تاسو په دې پروګرام کې ښځو ته هیڅ ځاې نه دی ورکړې، دا ډېره د افسوس خبره ده." کاغذوال وویل، " له نېکه مرغه مېرمن آرزو او آغلې یاسمین هم وعده کړې ده چې خپل

شعرونه رالېږي. مونږ غواړو چې دلته يې څوک ووايي نو بې بي...که ته څوک پېژنې چې دا شعر په هغه سېمينار کې ووايي..."
هغه جينۍ د خپلو دوو نورو ملګرو سره ناسته وه چې تر هغې يې هيڅ خبرې نه وې کړې او ټول وخت يې د ټېليفون په پرده يو بل ته ليکلي پېغامونه ورښکاره کول او پټ پټ يې خندل. د کاغذ وال په خبره درې واړه نيغې کيناستې او سترګې يې اخوا ديخوا واړولي. جينۍ په زوره وويل، " زه به وګورم خو د دې لپاره که تاسو ګلالۍ ته وويل نو ښه به وي."
يوځوان په قهرلګيا شو، " تاسو د سېمينار خبره کوئ او که د ميلې؟ يوه خوا مو د مشاعرې او د اتڼ پروګرام دی، بل خوا د حاجي باروز په شان کسانو ته د خبرو وخت ورکوئ چې ښه شهرت نه لري...سېمينار خو هغه وي چې پکې څو عالمان يا استادان خلکو ته څه نوې خبره وکړي، يا په ټاکلي موضوع دې بحث وشي."
هغه کس چې د ډېر وخت نه يې سترګې پټې او سر يې يو خوا بل خوا ځنګيدو، راويښ شو او په زوره يې وويل، " مېله به په کومه نېټه وي؟
ټولو وخاندل نو هغه د خپل ځای نه په ودريدو وويل، " معذرت غواړم، زما يو ضروري کار و." بخښنه غواړم"
وياند هغه ځوان ته وويل، " تا لکه چې د سردار خان خبرې نه دي اورېدلي" ځوان هم هغسې په تونده لهجه وويل، " اورېدلي مې دي... خو تر اوسه د حاجي باروز، ګلفروش او سردار خان نه علاوه پکې بل څه شته؟" يو کس ورو وويل، " د ارزو او د ياسمين شعرونه هم لري...يو چا غږ وکړو، " تېر کال هم دغه خلک وو، هم دغسې پروګرام و البته د حاجي باروز پر ځای د هر کلي وېنا، شهباز خټک کړې وه" يو کس خپل موبايل راوويستو او وې ويل، " ما سره يې تر اوسه ويډيو شته او که غواړئ نو درښکاره به يې کړم."
ټولو وياند ته کتل چې خپلې شوندې يې په ژبه لمدولې خو پخپل ځای ودريدو او وې ويل، " دا خبرې د هر چا زده دي، په نورو نيوکه کول تر ټولو اسانه کار دی. په دې يو کال کې څومره خلکو ته مې وويل چې د ملي ورځې لپاره راته خلک په ګوته کړئ، خو هيچا زما د "اي مېل" ځواب رانکړو. ځينې خو د ټېليفون پېغام هم نه اوري. د ملي ورځې لپاره دا درې مياشتې کېږي چې خلکو ته زنګونه وهم. هر څوک چې دا پروګرام

جوړوي، راوړاندې شئ. زه به هم اوس د خپلې ټولنې د سکتر په توګه استعفا وکړم"
په تالار کې ټولو " نا...نا... داسې نه کیږي... استاد خفه نشې...اې هلکانو غلې شئ...غږونه راپورته شول. یو سپین ږیري وویل، " که مونږ ټوله شپه هم خبرې وکړې نو یوې نتیجې ته نه رسیږو. ښه به دا وي چې اوس لپاره هم هغه څه چې سردار خان او سکتر صېب پلان کړي دي، ورسره به وومنو. د بل کال لپاره به د وخت له سره پخپلو کې کښېنو او یو ښکلې پروګرام به ترتیب کړو چې ځوانانو له خوا به جوړ شوې وي."
ټولو چکچکې وکړې او یو کس په دروازه کې اعلان وکړو، " ډوډۍ تیاره ده."
لندن نومبر ۲۰۱۳ م

پاې